# HAZOB

6

zeitschrift

Sozial- und Kulturmagazin



Für Geflüchtete ist es in jedem neuen Land zunächst schwierig, klare Prioritäten zu erkennen. Die Entscheidung, wo man beginnt und in welche Richtung man sich bewegt, ist oft nicht leicht. Doch mit der Zeit wird genau dies in Deutschland immer wichtiger. Wer seine Prioritäten nicht rechtzeitig festlegt, läuft Gefahr, Orientierung zu verlieren.

«Aus dem Leitartikel»

Beebargains

# Your Trusted Wholesale Partner for Discount Lines

**Importer & Distributor | B2B Wholesale Website**

Specialist in Discount Lines



**Thousands of Products**
**Lowest Prices Guaranteed**



## Kitchenwares

*Where Style Meets Function – Kitchen Essentials Redefined.*

## Stationery

*Stationery That Works as Hard as You Do.*



Unit 2, Victoria House, 59B Derby Street,
M8 8HW, Manchester, United Kingdom

- Website: www.beebargains.co.uk
- Shop Online: beebargains.co.uk/shop/
- Email: info@budgetlines.co.uk

zeitschrift

# HAZOB

Sozial- und Kulturmagazin

## Dezember 2025


Impressum:

| | |
|---|---|
| **Herausgeber:** | **HAZOB e.V. (Verbindung und Veränderung der Gelenkstift)** |
| **Chefredakteur:** | **Saeed, Mahmood** |
| **Redakteur stellvertretender:** | **Ehsas, Mojeeburahman** |
| **Redakteur:** | **Shahab, Qarib Rahman** |
| **Gestaltung und Design:** | **Hewadmal Graphics** |
| **Angelegenheiten-Online:** | **Noori, Khanagha** |
| **Redaktion:** | **Prof. Gul Rahman Rahmani** |
| | **Qarib Rahman Shahab** |
| | **Dr. Muhammad Asim Mayar** |
| | **Nazanin Ahmadzai** |
| | **Samim Sahar** |
| | **Farhad Zahir** |
| | **Zabihullah Khurshidi** |



**E-Mail:**

info@hazob.de

**Internet:**

www.hazob.de

**Address:**

Hazob

Berlin, Deutschland


SCAN ME

## Liebe Leserinnen und Leser,

wir freuen uns sehr, dass Sie die sechste Ausgabe der Zeitschrift Hazob in den Händen halten. Die Botschaft und Bedeutung dieser Ausgabe liegt darin, dass das ehrenamtliche Hazob-Team weiterhin fest zu seinem Versprechen steht, Bereits zum sechsten Mal geben wir Informationen rund um das Leben in Deutschland, Integration, kulturelle Vielfalt und gemeinsame Werte in Ihrer eigenen Sprache weiter.

Auch in dieser Ausgabe widmen wir uns wieder vielfältigen Themen wie Migration, Integration, Rechten, sozialem Leben, Bildung, Arbeit, Identität und psychischen Belastungen. Dabei beleuchten wir unterschiedliche Perspektiven und geben Hinweise zum konstruktiven Umgang mit diesen Herausforderungen.

Für Geflüchtete ist es in jedem neuen Land zunächst schwierig, klare Prioritäten zu erkennen. Die Entscheidung, wo man beginnt und in welche Richtung man sich bewegt, ist oft nicht leicht. Doch mit der Zeit wird genau dies in Deutschland immer wichtiger. Wer seine Prioritäten nicht rechtzeitig festlegt, läuft Gefahr, Orientierung zu verlieren.

Diese Prioritäten sehen bei jedem Menschen anders aus, abhängig von persönlichen Lebensumständen und vorhandenen Möglichkeiten. Deshalb trägt jeder Einzelne Verantwortung dafür, die eigenen Ziele bewusst zu definieren.

Durch das Hazob-Magazin möchten wir Sie dabei unterstützen, Ihre Prioritäten besser zu erkennen und einzuordnen.

Wir bieten Ihnen Informationen, Unterstützungsangebote und Erfahrungsberichte,  die Ihnen helfen können, sich besser zu orientieren. Auch in dieser Ausgabe finden Sie Beiträge, die Ihnen möglicherweise den entscheidenden Impuls geben, neue Wege zu entdecken und zu gehen.

Ein zentrales Thema, das sich durch alle bisherigen Ausgaben zieht, ist der Begriff der Integration. Dabei ist wichtig zu betonen: Integration bedeutet nicht, die eigene Identität aufzugeben, vielmehr geht es darum, die Fähigkeit zu entwickeln, mit den Werten und Regeln der neuen Gesellschaft respektvoll und konstruktiv zu leben.

Wer diese Fähigkeit früh erlernt, schafft sich damit Chancen für persönliches Wachstum und gesellschaftliche Teilhabe. Wer sie vernachlässigt, riskiert, den Anschluss zu verlieren.

Hazob beleuchtet daher regelmäßig gesellschaftliche Vereinbarungen, Normen und Regeln, die besonders für Afghanen in Deutschland von Bedeutung sind, weil sie sich unmittelbar auf ihr Leben und ihre Zukunft auswirken.

Über das Hazob-Magazin veröffentlichen wir regelmäßig relevante Informationen, um insbesondere Afghanen in Deutschland bei ihrer Orientierung und Integration zu unterstützen.

Wir hoffen, dass das Lesen dieser Ausgabe Sie inspiriert und vielleicht sogar ein kleiner Impuls für eine positive Veränderung im Alltag sein kann. Wenn uns das gelingt, haben wir einen Teil unserer Verantwortung erfüllt.

Nun wünschen wir Ihnen eine anregende Lektüre!

Mit Respekt und Herzlichkeit,

Hazob-Team

# Vier Jahre später:

# Bewertung der Integration der neu angekommenen Afghanen in Deutschland



**Qarib Rahman Shahab**

Die Afghanen, die nach dem Zusammenbruch des republikanischen Systems in Afghanistan mit Unterstützung Deutschlands nach Deutschland gekommen sind darunter viele Ortskräfte – leben nun zum Großteil seit vier Jahren oder länger in Deutschland. Eine offizielle Bewertung des Integrationsprozesses dieser Gruppe liegt bisher nicht vor. Dennoch deuten einige Informationen darauf hin, dass dieser Prozess erfolgreich verläuft.

Die Personen, die aus humanitären Gründen oder im Rahmen der Aufnahme ehemaliger Ortskräfte nach Deutschland gebracht wurden, sind überwiegend gebildete Menschen und Familien. Im Vergleich zu Geflüchteten, die nach 2015 im Zuge der großen Fluchtbewegung illegal nach Deutschland kamen, lernten sie die Sprache deutlich schneller.

Ein Grund für den schnellen Spracherwerb war der zügige und einfache Zugang zu Integrationskursen. Seit 2021 hat jeder afghanische Staatsangehörige, der in Deutschland lebt und die Sprache nicht beherrscht, das Recht, eine Teilnahmeerlaubnis für einen Integrationskurs von den zuständigen Behörden zu erhalten.

Ein weiterer Grund für den schnellen Spracherwerb war die teilweise oder vollständige Vertrautheit der neu angekommenen Afghanen mit der englischen Sprache. Viele konnten ihre Alltagsprobleme eigenständig lösen und so eine bessere Verbindung zur Gesellschaft aufbauen.

Ein zusätzlicher Vorteil war, dass diese neuen Afghanen , anders als frühere Gruppen , nicht durch das Asylverfahren mussten. Sie erhielten ab dem ersten Tag eine Aufenthaltserlaubnis, in der Regel gemäß §22 S. 2 des Aufenthaltsgesetzes. Damit hatten sie von Beginn an das Recht auf Aufenthalt, Bildung und Arbeit, ohne mit zusätzlichen Verfahren belastet zu sein, was ihnen half, auch sprachlich und allgemein im Integrationsprozess erfolgreich zu sein.

Inoffizielle Zahlen zeigen, dass über 75 % der von aufgenommenen Afghanen ein Sprachniveau von mindestens B1, viele sogar B2 oder C1 erreicht haben. Nahezu die Hälfte von ihnen ist bereits im Arbeitsmarkt integriert.

Ein wesentlicher Unterschied zu früheren Gruppen von Afghanen besteht darin, dass viele dieser neu Angekommenen bereits in Afghanistan Berufserfahrung in staatlichen oder nichtstaatlichen Institutionen gesammelt hatten, die auch im Ausland anwendbar ist. Dies half vielen, sich trotz begrenzter Sprachkenntnisse schneller in den Arbeitsmarkt zu integrieren.

Ein zentrales Problem, das leider weiterhin ungelöst ist, betrifft die Beteiligung afghanischer Frauen an Sprachkursen und am Arbeitsmarkt. Etwa die Hälfte der neu angekommenen Personen sind Frauen. Ihr Anteil in diesen Bereichen ist jedoch sehr gering, was darauf zurückzuführen ist, dass viele von ihnen

in Afghanistan keinen Zugang zu Bildung hatten oder mit familiären Verpflichtungen, insbesondere Kindern, beschäftigt sind.

Die Integration von Kindern verläuft hingegen sehr gut, da sie Zugang zu denselben Angeboten haben wie deutsche Kinder. Sie konnten die Sprachbarrieren in Kitas oder Schulen besser als viele andere geflüchtete Kinder überwinden und nehmen am Unterricht aktiv und erfolgreich teil.

Ein weiterer positiver Aspekt dieser Gruppe ist die sehr geringe oder gar keine Beteiligung an illegalen Aktivitäten. Obwohl es sich nicht um offiziell veröffentlichte Daten handelt, gelten die von deutschen Behörden aufgenommenen Afghanen als nicht in schwere Straftaten verwickelt. Ihr Anteil an den sonst bei Geflüchtetenen , besondere bei Afghanen bekannten Delikten ist nahezu null. Dies ist ein Beispiel für gelungene Integration.

Leider nimmt dennoch die Ablehnung gegenüber Afghanen in der deutschen Gesellschaft zu, was auf das Verhalten einzelner Afghanen zurückzuführen ist. Die positiven Beispiele der neu angekommenen Afghanen überwiegen jedoch deutlich.

Trotz all dieser positiven Entwicklungen darf man nicht übersehen, dass der Integrations und Verantwortungsübernahmeprozess bei den neu Angekommenen noch immer langsam verläuft und die vorhandenen Chancen nicht vollständig genutzt wurden.

Es stimmt, dass die gesellschaftlichen Anforderungen in Deutschland im Vergleich zur afghanischen Gesellschaft strenger sind, aber vier Jahre sind eine ausreichende Zeit, damit eine gebildete Person sich in einer entwickelten Gesellschaft zurechtfindet und wie ein Teil dieser Gesellschaft lebt.

Leider befinden sich einige dieser Personen noch immer in sehr frühen Phasen des Integrationsprozesses, obwohl ihnen alle Möglichkeiten für einen schnellen Fortschritt zur Verfügung standen.

Ein grundlegendes Problem der neu Angekommenen:

Die Aufenthaltserlaubnis gemäß §22 des Aufenthaltsgesetzes ist eine befristete Erlaubnis. Ihre Umwandlung in eine unbefristete Erlaubnis oder der Erwerb der deutschen Staatsangehörigkeit ist im Vergleich zu vielen anderen Aufenthaltstiteln besonders schwierig.

Personen, die einen Aufenthaltstitel gemäß § 22 Absatz 2 des Aufenthaltsgesetzes besitzen und diesen in eine Niederlassungserlaubnis umwandeln möchten, müssen die Voraussetzungen des § 9 Aufenthaltsgesetz erfüllen und gemäß § 26 Aufenthaltsgesetz eine unbefristete Aufenthaltserlaubnis beantragen. Dazu gehört, dass sie mindestens fünf Jahre in Deutschland gelebt haben, mindestens 60 Monate (also fünf Jahre) Beiträge zur Sozialversicherung geleistet haben – was bedeutet, dass sie in dieser Zeit erwerbstätig gewesen sein müssen, über ein Sprachzertifikat verfügen, keine staatlichen Leistungen beziehen und keine schwerwiegenden Straftaten begangen haben.

Personen mit einer Aufenthaltserlaubnis nach §22 können die deutsche Staatsangehörigkeit nicht direkt beantragen. Sie müssen zuerst ihren Aufenthaltstitel umwandeln, da §22 zu den Aufenthaltstiteln gehört, die laut §10 des Staatsangehörigkeitsgesetzes keine direkte Einbürgerung ermöglichen.

Der einzig gangbare Weg für viele dieser Personen ist: gute Sprachkenntnisse und Integration, fünf Jahre Arbeit und die Erfüllung der weiteren Voraussetzungen erst dann können sie ihre Aufenthaltserlaubnis umwandeln.

Der Aufenthaltstitel nach §22 kann auch in andere Aufenthaltstitel umgewandelt werden beispielsweise in eine Erlaubnis nach §18b für Fachkräfte. Dafür müssen jedoch die Hochschulabschlüsse anerkannt, ein Arbeitsvertrag im entsprechenden Bereich vorgelegt und die Bedingungen des Fachkräfteeinwanderungsgesetzes erfüllt werden.

Es gibt auch andere Wege, etwa den parallelen Besitz zweier Aufenthaltstitel, doch diese sind in der Praxis kompliziert und schwer umzusetzen.

Deshalb sollten diese Afghanen nach erfolgreicher Integration möglichst rasch in den Arbeitsmarkt eintreten und die Voraussetzungen für eine unbefristete Aufenthaltserlaubnis erfüllen.



# Migration und Kultur

Prof. Gul Rahman Rahmani

Ein befreundeter Geflüchteter nahm kürzlich aus London Kontakt mit mir auf. Nachdem wir uns über die aktuelle Lebenssituation ausgetauscht und gemeinsame Erinnerungen an frühere Zeiten aufgefrischt hatten, äußerte er den Wunsch, ein weiteres, für ihn sehr wichtiges Thema mit mir zu besprechen. Ich bat ihn, frei zu sprechen. Er sagte: „Wenn es dir möglich ist, würde ich dich bitten, abends jeweils eine Stunde mit meinen Kindern an ihrer Muttersprache zu arbeiten – damit die beiden Jüngeren sie gut lernen und die beiden Älteren sie festigen. Es beunruhigt mich, dass sie untereinander fast ausschließlich Englisch sprechen. Das liegt wohl daran, dass sie hier geboren wurden und wir keine paschtunischsprachigen Nachbarn haben.

In dieser Bitte spürte ich sowohl Sorge als auch Bewusstsein. Sie spiegelte ein tiefes Verständnis für eine fundamentale Realität wider: Die Sprache ist der tragende Pfeiler von Kultur, Identität und historischer Kontinuität. Mein Freund lebt seit über einem Jahrzehnt in London. Zwei seiner Kinder wurden dort geboren; zwei ältere brachte er aus Afghanistan mit. Er schilderte, wie er und seine Ehefrau aufgrund beruflicher Verpflichtungen abends kaum noch Energie finden, sich der Sprachpflege ihrer Kinder zu widmen. Zwischen Arbeitsalltag, Haushalt und Erschöpfung bleibt kaum Zeit, um dieser essenziellen Aufgabe gerecht zu werden.

Diese Sorge ist keineswegs ein Einzelfall. Viele afghanische Geflüchtete stehen im Ausland vor der gleichen Herausforderung: ein intensives, oft prekäres Leben in der Fremde, während ihre Kinder in Bildungseinrichtungen mit einer anderen Hauptsprache sozialisiert werden. Damit eröffnet sich ein vielschichtiger Diskurs über Migration und Kultur. Wenn ein Mensch seine Heimat verlässt, vollzieht sich nicht nur ein physischer Ortswechsel – er trägt seine Kultur, seine Bräuche, seine Sprache und seine Werte mit sich. Diese kulturelle Identität ist nicht nur ein Teil seines persönlichen Selbstverständnisses, sondern auch ein Erkennungsmerkmal, durch das er in der Welt wahrgenommen wird.

Zahlreiche afghanische Migrantinnen und Migranten haben in ihren jeweiligen Aufnahmeländern kulturelle Vereinigungen, Bildungsinitiativen, Sprachzentren und mediale Plattformen ins Leben gerufen, um das kulturelle Erbe zu erhalten. Daraus hat sich ein eigenständiger Forschungsbereich herausgebildet: die Literatur und Kultur der Migration. Auch an der Akademie der Wissenschaften Afghanistans wurde kürzlich ein wissenschaftliches Symposium zu diesem Themenkomplex veranstaltet. Dennoch bleibt der Forschungsbedarf groß. Die afghanische Migrationskultur

bedarf tiefgehender wissenschaftlicher Betrachtung, da sie das Ergebnis intensiver Bemühungen ist – oftmals unter Entbehrung persönlicher Bedürfnisse. Viele haben ihre Existenz in den Dienst der Bewahrung ihrer Kultur gestellt.

Im Folgenden sollen einige Schlüsselaspekte erläutert werden, die innerhalb der Migrationskultur besonderer Beachtung und aktiver Pflege bedürfen:

## Sprache

Wie bereits einleitend erwähnt: Die Sprache ist nicht nur ein Kommunikationsmittel, sondern das zentrale Medium kollektiver Identität, historischer Erinnerung und kultureller Selbstdefinition. Eine Sprache überlebt nur, wenn sie als aktives Werkzeug des Austauschs zwischen den Menschen praktiziert wird. Als soziales Phänomen kann sie nur in der Gemeinschaft lebendig bleiben.

Insbesondere die paschtunische Sprache – unsere nationale und mütterliche Ausdrucksform – verkörpert weit mehr als nur ein linguistisches System. Sie ist ein Träger kollektiven Wissens, kultureller Narrative und sozialer Orientierung. Afghanische Migrantinnen und Migranten sind aufgerufen, ihre Sprache im familiären Alltag lebendig zu halten. Das schließt nicht nur das regelmäßige Sprechen ein, sondern auch die Pflege regionaler Dialekte. Sprache muss als Wert vermittelt und als Kulturgut verteidigt werden.

Dazu sind Bildungszentren, Unterrichtsmaterialien und systematische Lehrformate notwendig. Eine herausragende Leistung wäre zudem die Übersetzung grundlegender wissenschaftlicher und didaktischer Werke aus der Sprache des Aufnahmelandes ins Paschtunische.

## Nationale und religiöse Gedenktage als kollektive Anker

Religiöse und nationale Feiertage sind nicht bloß festliche Anlässe, sondern Ausdruck tiefer kultureller und historischer Identität. Sie fördern soziale Kohärenz, kollektives Erinnern und transgenerationale Wissensvermittlung. Feiertage wie das Opferfest (Eid al-Adha), Nowruz (Neujahr), Gedenktage nationaler Persönlichkeiten sowie Sprachen- und Kulturtage sollten auch im Ausland angemessen begangen werden – sei es im Rahmen institutioneller Veranstaltungen oder im familiären Kreis.

## Soziale Rituale und Netzwerke im Exil

Auch in der Fremde haben Anlässe wie Geburten, Hochzeiten, Todesfälle oder Krankenbesuche eine zentrale soziale Funktion. Sie dienen der Stabilisierung sozialer Netzwerke, der Reproduktion gemeinschaftlicher Solidarität und dem Schutz vor Isolation. Trotz beruflicher Verpflichtungen sollten diese Anlässe nicht vernachlässigt werden, da sie das Fundament sozialer Verbundenheit im Exil stärken.

## Wissensvermittlung über Herkunft, Geschichte und Werte

Die im Ausland geborene Generation benötigt eine fundierte Einführung in die Geschichte, Geografie, kulturellen Werte und politischen Herausforderungen Afghanistans. Das Wissen um

traditionelle Kleidung, regionale Besonderheiten, die Geschichte der Provinzen und aktuelle gesellschaftliche Fragen stärkt das Bewusstsein für die eigene Herkunft und schützt vor Identitätsverlust. Hierbei spielen nicht nur Familien, sondern auch kulturelle Institutionen und Bildungsangebote eine zentrale Rolle.

## Soziale Verantwortung und Solidarität

Zahlreiche afghanische Geflüchtete leisten – trotz begrenzter Mittel – bemerkenswerte Beiträge zur Unterstützung anderer Bedürftiger im In- und Ausland. Wohltätige Vereine und soziale Initiativen sind Ausdruck einer tief verankerten Ethik des Teilens. Diese Form der praktizierten Solidarität ist nicht nur religiös motiviert, sondern ein wesentlicher Bestandteil kultureller Identität. Sie sollte bewusst gepflegt und an die nächste Generation weitervermittelt werden – auch im Einklang mit den humanitären Erfahrungen der Aufnahmeländer.

## Bildung und berufliche Qualifikation

Bildung ist eine der entscheidenden Ressourcen für gesellschaftliche Teilhabe und individuelle Selbstverwirklichung. Gerade im Ausland ist es von entscheidender Bedeutung, dass Kinder und Jugendliche Zugang zu hochwertigen Bildungsangeboten erhalten. Ebenso sollten Erwachsene ihre beruflichen Qualifikationen kontinuierlich erweitern. Denn qualifizierte, gebildete Mitglieder der Diaspora tragen nicht nur zur Entwicklung ihrer Herkunftsgemeinschaft bei, sondern leisten auch einen positiven Beitrag zur Gesellschaft des Aufnahmelandes.

## Gesellschaftlicher Blick und kulturelles Weltbild

Viele junge Menschen wachsen im Spannungsfeld zwischen Herkunfts- und Aufnahmekultur auf – physisch gereift, aber intellektuell oft orientierungslos. Umso wichtiger ist es, ihnen ein ausgewogenes kulturelles Weltbild zu vermitteln. Dies umfasst Werte wie Toleranz, Pluralität, Dialogfähigkeit und soziale Verantwortung. Solche Haltungen bilden ein Schutzschild gegen Radikalisierung und fördern die Fähigkeit, Herausforderungen des Lebens mit Augenmaß und innerer Stabilität zu begegnen.

## Schlussfolgerung

Migration ist weit mehr als die Suche nach Schutz oder der Versuch eines Neuanfangs. Sie ist auch kulturelle Repräsentation in einem transnationalen Raum. Diese Repräsentation erfordert Bewusstsein, Bildung, Engagement – und insbesondere ein starkes kulturelles Selbstverständnis. Wer sich seiner eigenen kulturellen Werte entfremdet, riskiert, im globalen Strom der Entwurzelung verloren zu gehen. Daher ist es von entscheidender Bedeutung, der globalisierten Welt nicht durch kulturelle Aufgabe, sondern mit kultureller Selbstbehauptung und Integrität zu begegnen.

Frage# 57 von 300

**Wer wird meistens zum Präsidenten / zur Präsidentin des Deutschen Bundestages gewählt?**

- Der / die älteste abgeordnete im parlament
- Der ministerpräsident / die ministerpräsidentin des größten bundeslandes
- Ein abgeordneter / eine abgeordnete der stärksten fraktion
- Ein ehemaliger bundeskanzler / eine ehemalige bundeskanzlerin

له ۳۰۰ ۵۷ څخه پوښتنه

**څوک اکثرا د آلمان د Bundestag ولسمشر ټاکل کیږي؟**

- د پارلمان تر ټولو پخوانی غړی
- د آلمان د تر ټولو لوی ایالت، لومړی وزیر
- د قوي پارلماني ډلې څخه یو MEP
- یو پخوانی فدرالي چانسلر

Frage# 58 von 300

**Wer ernennt in Deutschland die Minister / die Ministerinnen der Bundesregierung?**

- Der präsident / die präsidentin des bundesverfassungsgerichtes
- Der bundespräsident / die bundespräsidentin
- Der bundesratspräsident / die bundesratspräsidentin
- Der bundestagspräsident / die bundestagspräsidentin

له ۳۰۰ ۵۸ څخه پوښتنه

**په آلمان کې د فدرالي حکومت وزیران څوک ټاکي؟**

- د فدرالي اساسي قانون محکمې رییس
- فدرالي ولسمشر / فدرالي ولسمشره
- د فدرالي شورا رییس
- د Bundestag ولسمشر

Frage# 59 von 300

**Welche Parteien wurden in Deutschland 2007 zur Partei „Die Linke"?**

- CDU und SSW
- PDS und WASG
- CSU und FDP
- Bündnis 90/Die Grünen und SPD

له ۳۰۰ ۵۹ څخه پوښتنه

**کوم ګوندونه په ۲۰۰۷ کال کې په آلمان کې سره یوځای شول او «Die Linke» ګوند یې رامنځته کړ؟**

- CDU او SSW
- PDS او WASG
- CSU او FDP
- Bündnis ۹۰/Die Grünen او SPD

Frage# 60 von 300

**In Deutschland gehören der Bundestag und der Bundesrat zur …**

- Exekutive.
- Legislative.
- Direktive.
- Judikative.

له ۳۰۰ ۶۰ څخه پوښتنه

**په آلمان کې، Bundestag او Bundesrat د یوې لاندې برخې پورې اړه لري؟**

- اجراییه څانګه
- مقننه څانګه
- شخصي فرمان یا لارښوونه
- قضا څانګه

Frage# 61 von 300

**Was bedeutet „Volkssouveränität"?**

- Der König / die Königin herrscht über das Volk.
- Das Bundesverfassungsgericht steht über der Verfassung.
- Die Interessenverbände üben die Souveränität zusammen mit der Regierung aus.
- Die Staatsgewalt geht vom Volke aus.

له ۳۰۰ ۶۱ څخه پوښتنه

**د خلکو د حاکمیت معنی څه ده؟**

- پاچا/ملکه پر خلکو واکمني کوي.
- د فدرالي اساسي قانون محکمه د اساسي قانون څخه پورته ده.
- د سوداګرو اتحادیې او ګوندونه د حکومت سره یوځای حکومت کوي.
- د دولت واک د خلکو څخه سرچینه اخلي.

Frage# 62 von 300

**Wenn das Parlament eines deutschen Bundeslandes gewählt wird, nennt man das …**

- Kommunalwahl.
- Landtagswahl.
- Europawahl.
- Bundestagswahl.

له ۳۰۰ ۶۲ څخه پوښتنه

**د آلمان ایالتي پارلماني ټاکنې څه نومیږي؟ (ایالتي ټاکنې د پارلمان لپاره)**

- محلي ټاکنې
- ایالتي ټاکنې
- د اروپا ټاکنې.
- فدرالي پارلماني ټاکنې



# د تابعیت ازموینه

# Einbürgerungstest



## په آلمان کی د ژوند کولو او د تابعیت اخیستلو لپاره
## In deutschland die Staatsbürgerschaft zu leben und erwerben

### د آلمان اصول او قوانین
### Deutsche Grundsätze und Gesetze

Frage# 53 von 300

**Was bedeutet „Rechtsstaat" in Deutschland?**

- Der Staat hat Recht.
- Es gibt nur rechte Parteien.
- Die Bürger und Bürgerinnen entscheiden über Gesetze.
- ✓ Der Staat muss die Gesetze einhalten.

له ۳۰۰ څخه ۵۳ پوښتنه

**په آلمان کې د «قانون حاکمیت» څه معنی لري؟**

- دولت حق لري.
- یوازې سم گوندونه شتون لري.
- اتباع د قانون په اړه پریکړه کوي.
- ✓ دولت باید د قوانینو درناوی وکړي.

Frage# 54 von 300

**Was ist keine staatliche Gewalt in Deutschland?**

- Legislative
- Judikative
- Exekutive
- ✓ Direktive

له ۳۰۰ څخه ۵۴ پوښتنه

**په لاندې برخو کې کومه یوه، د آلمان دولتي قوه یا ځواک نه شمیرل کیږي؟**

- مقننه څانگه
- قضا څانگه
- اجراییه څانگه
- ✓ د لوړ پوړو چارواکو له طرفه فرمان

Frage# 55 von 300

**Was zeigt dieses Bild?**



- ✓ Den bundestagssitz in berlin
- Das bundesverfassungsgericht in karlsruhe
- Das bundesratsgebäude in berlin
- Das bundeskanzleramt in berlin

له ۳۰۰ څخه ۵۵ پوښتنه

**دا انځور څه ښیي؟**

- ✓ په برلین کې د Bundestag څوکی
- په کارلسروه کې د فدرالي اساسي قانون محکمه
- په‌برلین کې Bundesrats ودانۍ
- په برلین کې د فدرالي چانسلر دفتر

Frage# 56 von 300

**Welches Amt gehört in Deutschland zur Gemeindeverwaltung?**

- Pfarramt
- ✓ Ordnungsamt
- Finanzamt
- Auswärtiges Amt

له ۳۰۰ څخه ۵۶ پوښتنه

**په آلمان کې کوم دفتر د ښاروالۍ اداري پورې اړه لري؟**

- د کلیساو اداره
- ✓ تنظیمي دفتر
- د مالیې دفتر
- د بهرنیو چارو وزارت

# Heldenbär



Es war einmal ein Bär namens Benny. Benny lebte in einem kleinen Dorf am Fuße eines Berges. Er war ein sehr neugieriger Bär und liebte es, auf Entdeckungsreise zu gehen. Eines Tages beschloss er, den Berg zu erklimmen, um herauszufinden, was es auf der anderen Seite gab. Als er den Gipfel erreichte, sah er etwas, das ihn völlig verblüffte: Ein riesiger See, so weit das Auge reichte. Der See war so groß, dass Benny ihn nicht einmal überblicken konnte. Er war fasziniert von dem Anblick und beschloss, hinunterzusteigen, um ihn zu erkunden. Benny wandte sich an einige seiner Freunde, um sie zu begleiten, aber sie waren alle zu beschäftigt. Also beschloss er, alleine zu gehen. Er packte seinen Rucksack mit Proviant und machte sich auf den Weg. Nach einigen Tagen erreichte Benny den See. Er war so beeindruckt von dem Anblick

des kristallklaren Wassers und den Bergen im Hintergrund, dass er sich entschied, eine Weile dort zu bleiben. Er baute sich eine Hütte am Ufer des Sees und begann, die Gegend zu erkunden. großer see Eines Tages, während er auf dem See ruderte, entdeckte Benny eine Insel mitten im See. Er beschloss, hinüberzurudern, um sie zu erkunden. Auf der Insel entdeckte er eine Gruppe von Tieren, die er noch nie zuvor gesehen hatte. Sie waren freundlich und einladend und Benny beschloss, bei ihnen zu bleiben und sie kennenzulernen. Die Tiere auf der Insel erzählten Benny von ihren Abenteuern auf dem See und von den vielen Gefahren, die dort lauerten. Benny beschloss, ihnen zu helfen, diese Gefahren zu bekämpfen. Er baute sich ein Boot und begann, auf dem See zu fischen und die Tiere vor gefährlichen Kreaturen zu beschützen. insel mit tieren Mit der Zeit wurde Benny ein großer Held auf der Insel. Er half den Tieren, sicher und glücklich zu leben und der See wurde zu seinem Zuhause. Benny hatte nie gedacht, dass er einmal so weit von zu Hause entfernt leben würde, aber er war glücklich und zufrieden mit dem Leben hier und lebte fortan mit den Tieren, die er am See kennengelernt hatte.



HAZOB

info@hazob.de

# هښوب

مهالنۍ

٦

ټولنيزه او فرهنگي مجله




د لومړيتوبونو تشخيص د ټولو کسانو لپاره يو شان نه دی، بلکې هر کس، خپل حالت، شرايط او اسانتياوو ته په کتو د ښه راتلونکي لپاره لومړيتوبونه ټاکي، ځکه نو هر کس په خپله مسووليت لري، چې د خپلو لومړيتونو نوملړ وټاکي.

"له سرمقالې څخه"

HAZOB

مهالنۍ

# هڅوب

ټولنیزه او فرهنګي مــجله

۲۰۲۵ کال،
شپږمه ګڼه

نیټه: ډسمبر ۲۰۲۵


مؤسس او د امتیاز څښتن: هڅوب
مسوول مدیر: محمود سعید
مرستیال: مجیب الرحمن احساس
متن ایډیټور: قریب الرحمن شهاب
کمپوټر چارې: خان آغا نوري
کمپوز او ډیزاین: هېوادمل ګرافیکس
برېښنالیک: info@hazob.de
پته : جرمني، برلین


هڅوب په ټولنیزو رسنیو کې :

SCAN ME

www.hazob.de

بیه: ۵ یورو

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| څلور کاله وروسته؛ جرمني ته د نویو راغلو افغانانو د ادغام ارزونه | ۶ |
| کډوالي او کلتور | ۹ |
| پر پښتو ژبه د مهاجرتونو اغېزې | ۱۲ |
| آیا Schufa پېژنی ؟؟؟ | ۱۷ |
| جرمني مېشتي افغانان د احساس او اړتیا تر منځ | ۱۹ |
| د خیرلارې ته زما سفر | ۲۱ |
| جرمني کې د افغان کډوالو نوی حالت: له یوه جنګه بلې روحي جګړې ته | ۲۳ |
| له ظریف سنګر سره مرکه | ۲۴ |
| ایا کډوالي جرمونه زیاتوي؟ | ۳۰ |
| د ماشومانو نړۍ | ۳۴ |
| د تابعیت پوښتنې | ۳۸ |

# د هڅوب د نوي مشرتابه لپاره ټاکنې ترسره شوې!

د هڅوب ټیم د تیرو ناستو په دوام، په خپله وروستۍ نوبتي انلاین ناسته کې ددې بنسټ لپاره نوی مشر غوره کړ.

دغه ناسته چې د هڅوب بنسټ د نوي مشرتابه او دغه راز د هڅوب مجلې لپاره د نوي پلاوي د ټاکنې په هدف جوړه شوې وه، اکثریت غړو یې پکې برخه اخستې وه.

په دې ناسته کې د هڅوب د مشرۍ لپاره څو کسان وړاندیز شول، چې دغړو د رایو په اکثریت ښاغلی قریب الرحمن شهاب د دې بنسټ د نوي مشر په توگه وټاکل شو.

تر دې وړاندې ښاغلي محمود سعید د هڅوب بنسټ مشري پرغاړه درلوده او د یاد بنسټ د کړنلارې پراساس، د ښاغلي سعید د کاري مودې په پای ته رسیدو سره نوی مشر انتخاب شو.

د هڅوب د کړنلارې پراساس، د یاد بنسټ لپاره په هرو دوو کلونو کې نوی مشر انتخابیږي.

د دې تر څنگ د ښاغلي قریب‌الرحمن شهاب پر ځای، ښاغلی عبدلواسع هېوادمل د هڅوب ټولنې د منشي پر ځای وټاکل شو.

دغونډې گډونوالو د کاري ډلې هڅې وستایلې او د دې بنسټ د ودې لپاره یې د دوی فعالیتونه د قدر وړ وبلل.

په ناسته کې د مجلې د لاښه والي په تړاو هم بحث وشو او پریکړه وشوه چې له دې وروسته به په مجله کې څو نورې ځانگړې برخې هم ورزیاتې شي او د ماشومانو د برخې لپاره به یوکتاب غوره چې په پرله پسې ډول به پکې خپریږي.

دغونډې په پای کې ښاغلي محمود سعید د هڅوب بنسټ د وروستیو فعالیتونواو پرمختگونو په تړاو معلومات شریک کړل او پریکړه وشوه چې د دې بنسټ د پیاوړتیا اوغوړېدا لپاره به هڅې دوامداره ساتي.

## د قدرمنو لوستونکو!

خوښ یو چې د هځوب شپږمه ګڼه تر تاسو رسیږي، ددې ګڼې پیغام او اهمیت دادی، چې د هځوب رضا کار ټیم په خپله ژمنه ولاړ پاتې دی او په جرمني کې د ژوند، ادغام، کلتورونو او ارزښتونو په اړه معلومات په شپږم ځل د مجلې په اړه په خپله ژبه تر تاسو در رسوي.

په دې ګڼه کې به هم د کډوالی، ادغام، حقونو، ټولنیز ژوند، زده کړو، کار، هویت او رواني فشارونو په څېر موضوعاتو بېلا بېل اړخونه او له موضوعاتو سره د چلند لارې چارې ولولئ.

که څه هم کډوالو ته په هر هیواد کې په لوموړیو کې ستونزمنه وي، چې د لومړیتوبونو تشخیص وکړي، او دا چې له کومه ځایه پیل او په کوم لوري حرکت وکړي سخته پریکړه وي؛ خو په جرمني کې د څه وخت په تېرېدو د لومړیتوبو د تشخیص اړتیا جدي کیږي او که لومړیتوبونه تشخیص نه شي ښایي ډېر کسان خپله لاره ورکه کړي.

د لومړیتوبونو تشخیص د ټولو کسانو لپاره یو شان نه دی، بلکې هر کس، خپل حالت، شرایط او اسانتیاوو ته په کتو د ښه راتلونکې لپاره لومړیتوبونه ټاکي، ځکه نو هر کس په خپله مسوولیت لري، چې د خپلو لومړیتونو نوملړ وټاکي.

موږ د هځوب له لارې هڅه کوو هغه عام شرایط، اسانتیاوې او معلومات تر تاسو در ورسوو، چې د لومړیتوبونو په تشخیص کې درسره مرسته کولی شي، ځکه مو په دې ګڼه کې هم ځینې داسې موضوعات را ټول کړي، چې ښایي له ځینو کسانو سره د یوه نوي مسیر د غوره کولو لپاره ګټور وي.

یوه بله مهمه مسئله چې د هځوب په ټولو ګڼو کې ورباندې ټینګار کیږي هغه د ادغام کلمه او ددې موضوع شرح ده، ادغام کله هم د هویت له لاسه ورکول نه دي، بلکې دا د نوې ټولنې له قوانینو او ارزښتونو سره د ګډ ژوند مهارت زده کول دي.

که څوک دا مهارت ښه او چټک زده کړي، په همغه کچه یې د پرمختګ لارې پرانیستل کیږي او که څومره په دې مهارت کې ټنبلي وشي، نو د وروسته پاتې کېدو لامل کیږي.

موږ به د هځوب له لارې د همدې ټولنیزو تړونونو، اصولو او قواعدو هغه بېلا بېلې برخې بیا بیا را اخلو چې د افغانانو له ژوند سره تړاو لري او فکر کیږي، چې د افغانانو پر ژوند یا راتلونکې اغېز لري.

هیله مو داده چې د هځوب لوستل ستاسو په ورځني ژوند کې لږ تر لږه د مثبت بدلون یوه وسیله وګرځي او په دې توګه موږ خپل مسوولیت ادا کړی وي.

نور مو رابولو د مجلې لوستو ته!

درناوی او مینه

د هځوب اداره





## څلور کاله وروسته؛

# جرمني ته د نويو راغلو افغانانو د ادغام ارزونه

قریب الرحمن شهاب

هغه افغانان چې جرمني ته د افغانستان د جمهوري نظام له سقوط وروسته د جرمني په مرسته دغه هيواد ته راغلل د لوی شمېر هغو يې اوس په جرمني کې د ژوند څلور کاله يا ډېره موده پوره شوې؛ خو داسې يوه ارزونه چې وښيي، ددغو افغانانو د ادغام بهير څه ډول مخته تللی په رسمي ډول نه ده خپره شوې؛ خو ځينې معلومات شته چې دا بهير بريالی ښيي.

هغه کسان چې د بشري دلايلو پر بنسټ يا هم د جرمني دسيمه ييزو همکارانو په ډله کې دغه هيواد ته راوستل شوي کابو ټول يې لوستي کسان او کورنۍ دي، دوی د ژبې د زده کړې په مرحله کې د هغو کډوالو په پرتله ډېر چټک وو، چې له ۲۰۱۵ وروسته د کډوالو په څپه کې په ناقانونه ډول جرمني ته راغلل.

د ژبې د چټکې زده کړې يو دليل د انټرگراځيون يا ادغام کورسونو ته چټک او اسانه لاسرسی و، له ۲۰۲۱ وروسته هر هغه افغان چې په جرمني کې اوسېده او جرمني ژبه يې نه وه زده حق وموند چې د کډوالو او پناه غوښتونکو ادارې له لوري د ادغام د کورس او ژبې اجازه تر لاسه کړي.

دويم دليل دا و، چې نويو راغلو افغانانو له انگليسي ژبې سره تر ډېره کچې يا په بشپړ ډول بلدتيا لرله او د ورځنيو چارو د پر مخ وړلو لپاره يې خپلې ستونزې په خپله حل کولې او په دې توگه له ټولنې سره ښه وصل شول.

د نويو افغانانو د ښه ادغام يو بل دليل دا و، چې دوی د مخکنيو هغو په څېر د پناه غوښتنې له پروسې سره مخ نه شول، بلکې له لومړۍ ورځې يې په جرمني کې د استوگنې قانوني اجازه تر لاسه کړې، چې نږدې ټولو کسانو د استوگنې قانون د ۲۲

مادي د دويمې جملې پر بنسټ د اوسېدو اجازې واخيستې.

دوی ټولو چارو ته کافي وخت درلود او پرته له دې چې په اضافي چارو بوخت شي، له لومړۍ ورځې يې د اوسېدو، زده کړو او کار حق درلود او دې کار له دوی سره مرسته وکړه چې د ژبې په ګډون د ادغام په بشپړ بهير کې بريالي وي.

غير رسمي شمېرې ښيي، چې هغه افغانان چې جرمني ادارو يې په راتګ کې مرسته کړې تر ۷۵ سلنه ډېرو هغوی تر B۱ کچې يا تر هغه په لوړه کچه د B۲ يا هم C۱ تر کچې ژبه زده کړې او نږدې نيمايي يې د کار مارکيټ ته هم تللي دي.

ددې کسانو يو لوی توپير له پخوانيو افغانانو سره دا و، چې هغوی په افغانستان کې هم په دولتي او غير دولتي ادارو کې د کار داسې تجربه لرله چې د نړۍ په نورو هيوادونو کې هم د کاروني ور وه/ده.

دې چارې هم له ډېرو کسانو سره مرسته وکړه چې په اسانه د ژبې له لړ زده کړې وروسته هم د کار مارکيټ ته ولاړ شي.

يوه اساسي ستونزه چې متاسفانه لا هم نه ده حل شوې هغه د ژبې د زده کړې او کار په مارکيټ کې د افغان راغلو ميرمنو ونډه ده.

د نويو راغلو کسانو نږدې نيمايي ميرمنې دي؛ خو د ژبې او کار په مارکېټ کې بيا د ميرمنو کچه خورا ټيټه ده او دليل يې دادی، چې راغلې افغان ميرمنې يا پخوا له تعليمي او تحصيلي فرصتونو محرومې وې يا هم ورته د کور او ماشومانو ستونزې ور په غاړه دي.

د ماشومانو د ادغام بهير بيا څکه تر ټولو ښه دی، چې هغوی ټولو هغه اسانتياوو ته لاسرسی لري يا ګټه ترې اخيستلی شي، چې جرمني ماشومان يې لري.

هغوی په وړکتونونو يا ښوونځيو کې د ژبې ستونزه د ډېرو نورو هيوادونو تر کډوالو ښه حل کړې او په ښوونځيو کې يې هم ارزونې او برخه د پام وړ ده.

ددې افغانانو په اړه يوه بله مثبته خبره داده، چې دوی په غيرقانوني کړنو کې خورا کم ښکيل يا هيڅ ښکيل نه دي.

دا که څه هم په رسمي ډول اعلان شوي معلومات نه دي؛ خو د جرمني حکومت يا ادارو له لوري راوستل شوي افغانان د خپرو شويو خبرونو له مخې په هيڅ خطرناک جرم کې ښکيل نه دي بلل شوي، يا هغه ناقانونه کړنې چې کډوال او بيا په ځانګړي ډول افغان کډوال ترسره کوي، په هغو کې ددوی کچه نږدې صفر ده او دا د ښه ادغام يوه بريالۍ بيلګه ده.

له بده مرغه په جرمني ټولنه کې د ځينو افغانانو د ناقانونه کړنو له امله د افغانانو پر ضد د کرکې کچه په لوړېدو ده؛ خو د ښه ادغام له ډېرو بېلګو سره سره مثبت پر رسنيو د افغانانو د ښه ادغام لړ بېلګې خپرېږي چې دا کار کولی شي، پر عامه ذهنيت مثبت اغيز ولري او د افغانانو يو ښه تصوير رامنځته کړي.

له دې ټولو مثبتو خبرو سره سره دا بايد له پامه ونه غورځوو چې د نويو افغانانو د ادغام او مسووليت اخيستنې بهير لا هم ورو دی او هغسې چې بايد له شته فرصتونو ګټه اخيستل شوې وای نه ده اخيستل شوې.

**د استوګنې قانون د ۲۲ مادې لړونکي کسان د اوسېدو په اوسنۍ اجازه د جرمني تابعيت نه شي اخيستلی، هغوی بايد لومړی خپله د استوګنې اجازه بدله کړي، ځکه د تابعيت قانون د لسمې مادې له مخې د استوګنې قانون ۲۲ ماده يوه له هغو مادو ده چې لړونکی يې نه شي کولی د تابعيت غوښتنه وکړي.**

دا سمه ده چې په جرمني ټولنه کې مسوولیتونه د افغاني ټولنې په پرتله ډېر سخت دي؛ خو ځلور کاله پوره او کافي موده ده، چې یو لوستی کس په یوه پرمختللې ټولنه کې ځان عیار کړي او ددې ټولنې د وګړو په څېر و اوسي.

له بده مرغه اوس هم ځینې راغلي کسان د ادغام د بهیر په ډېرو لومړیو پړاوونو کې دي په داسې حال کې چې د هغوی د چټک پرمختګ لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې وې.

**د نویو راغلو افغانانو یوه ستونزه:**

د استوګنې قانون د ۲۲ مادې پر بنسټ د استوګنې اجازه یوه موقتي اجازه ده او دایمي اجازې ته بدلول یا د جرمني تابعیت اخیستل پرې د ډېرو نورو مادو په پرتله سخت دي.

ددې مادې پر بنسټ که یو کس وغواړي چې د استوګنې خپله اجازه دایمي اجازې یا (نیدرلسونګ) ته بدله کړې باید د استوګنې قانون د نهمې مادې شرایط پوره کړي او بیا د استوګنې قانون د ۲٦ مادې له مخې د دایمي استوګنې اجازه واخلي، چې په هغه کې په جرمني کې لږ لږ تر لږه پنځه کاله ژوند کول، لږ لږ تر لږه ٦۰ میاشتې یا پنځه کاله د ټولنیزو بیمو اداینه ده یعنې مانا دا چې یو کس باید پوره پنځه کاله کار کړی وی چې دې اجازې ته غوښتنلینک ورکړی شي، د ژبې بي یو سند ولري، او دولتي مرسته تر لاسه نه کړي او کوم لوی جرم یې هم نه وي ترسره کړی.

د استوګنې قانون د ۲۲ مادې لرونکي کسان د اوسېدو په اوسنۍ اجازه د جرمني تابعیت نه شي اخیستلی، هغوی باید لومړی خپله د استوګنې اجازه بدله کړي، ځکه د تابعیت قانون د لسمې مادې له مخې د استوګنې قانون ۲۲ ماده یوه له هغو مادو ده چې لرونکی یې نه شي کولی د تابعیت غوښتنه وکړي.

یعنې هغه لاره چې د لوی شمېر کسانو لپاره ممکنه ده، هغه د ژبې ښه زده کړه او ادغام، پنځه کاله کار او هغه نور شرایط دي، چې دوی وکولی شي، بیا د استوګنې خپله اجازه بدله کړي.

د ۲۲ مادې د استوګنې اجازې ځینې نورو مادو ته هم بدلیدای شي؛ خو هغه هم ستونزمنه ده، ځکه د بهرنیو اتباعو ادارې په اسانۍ ورسره موافقه نه کوي یا یې شرایط ستونزمن دي.

د بیلګې په ډول د ۲۲ مادې لرونکی کس کولی شي، خپله د استوګنې اجازه د علمي مسلکي کارکوونکو مادې ۱۸ بې ته بدله کړي؛ خو ددې کار لپاره باید لومړی د پوهنتون ارزول شوي اسناد ولري، په خپله اړوند برخه کې د کار تړون ولري او بیا ورته دغه اجازه هم د کار د تړون پر بنسټ ورکول کیږي.

ځینې نورې لار هم شته چې یوه بیلګه یې هم مهاله د استوګنې د دوه اجازو لرل دي؛ خو تر لاسه کول یې په عمل کې خورا پیچلي او ستونزمن دي.

له همدې امله دغه افغانانو ته په کار ده، د ادغام له بشپړېدو سره سم د کار مارکیټ ته ولاړ شي او هغه شرایط چې د دایمي استوګنې لپاره اړین دي پوره کړي.

**د نویو راغلو کسانو نږدې نیمايي میرمنې دي؛ خو د ژبې او کار په مارکیټ کې بیا د میرمنو کچه خورا ټیټه ده او دلیل یې دادی، چې راغلې افغان میرمنې یا پخوا له تعلیمي او تحصیلي فرصتونو محرومې وې یا هم ورته د کور د ماشومانو ستونزې ور په غاړه دي.**

# کډوالي او کلتور

پوهندوی گل رحمن رحماني

په لندن کې مې یوه کډوال ملگرې اړیکه راسره نیولې وه، له حال احوال او ځینې پخوانیو خاطرو او وختونو له یادولو وروسته یې راته وویل، چې غواړم یوه بله موضوع هم درسره شریکه کړم، ما ویل مهرباني وکړه، ویل یې که امکان وي د شپې یو ساعت زما له بچیانو د خپلې ژبې په برخه کې کار کوه، ځو د لویانو قوي او د دوو وړو په ښه ډول زده شي، زه یې چې کله گورم خپلو منځو کې انگریزي خبرې کوي، ځکه دلته پیدا شوي او شاوخوا هم پښتانه گاونډیان نه لرو.

ما د خپل ملگرې په دغه غوښتنه یا وړاندیز کې واقعا مایوسي حس کړه، راته معلومه شوه چې دغه مسئلې ته متوجه دی او پوهېږي چې ژبه د کلتور او هویت اصلي محور جوړوي او دی چې له څه باندې لسو کلونو راهیسې په لندن کې ژوند کوي، دوه درې ماشومان یې هلته پیدا شوی او دوه مشران یې له هېواده ورسره بېولي وو، ده وویل چې زه او مېرمن مې په کارونو کې دومره بوخت یوو، چې شپې کور ته راشو، ایله اخلی پخلې او خپل کارونه وکړو، په گرانه وخت پیدا کوو، چې هغوی ته د ژبې زده کړه ورکړو.

زما د ملگرې دا اندېښنه ښایي له ډېرو هغو افغان کډوالو سره ملگرې وي چې بهر په سخت او بوخت ژوند کې را گیر دي او اولادونه یې هم د دویمې ژبې لرونکو ښوونځیو کې زده کړې کوي، زما له دغه مقدمې سره په حقیقت کې د کډوالۍ او کلتور بحث پیلېږي. یو کس چې کله له خپلې سیمې او هېواده بل هېواد ته کډوال شي، دا یوازې یوه جسمي یا فزیکي بې ځایه کېدنه نه ده، بلکې له ځان سره خپل کلتور، دود او دستور هم وړي او دا د هغه د شخصیتي او معنوي هویت هغه پانگه ده چې هر ځای ورباندې پېژندل کېږي.

ګڼ داسې افغان کډوال شته چې په بهرنیو هېوادونو کې یې تر مېشتېدنې وروسته تر هر څه وړاندې کلتوري ټولنې، بنسټونه، د خپلې ژبې د ساتنې او زده کړې مرکزونه او داسې خپروني رامنځته کړې چې په کډوالۍ کې خپل کلتور او هویت ژوندی وساتي، ځکه خو د مهاجرو ادبیاتو او کلتور موضوع ورسره رامنځته کېږي چې د ادبي او کلتوري څېړنو موضوع رامنځته کوي او څه موده وړاندې د افغانستان علومو اکاډمۍ کې په دې تړاو یو عملي سیمینار هم دایر شوی و، خو بسنه نه کوي او کډوال افغاني کلتور لا څېړنو ته اړتیا لري، ځکه چې کډوالو افغانانو هم له هره اړخه د خپل کلتور او ارزښتونو په ساتنه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي او په پردیو هېوادونو کې یې خپله مړې ددې چارې لپاره وقف کړې ده. دلته به ښه وي چې ځینو هغو ټکو ته اشاره وکړو چې په کډوال کلتور کې یې د پالنې سخته اړتیا ده.



## ژبه

لکه په قدمه کې مې چې وویل، ژبه د هویت اصلي برخه ده او څوک چې ژبه نه لري، په حقیقت کې هویت، تاریخ او کلتور هم نه لري، ژبه هغه مهال



ژوندۍ پاتې کېږي چې د وګړو تر منځ د خبرو اترو یا ډیالوګ وسیله پاتې شي، ځکه ژبه د ټولنیزې ښکارندې په توګه یوازې په ټولنه کې ژوندۍ پاتې کېږي، په دې اساس د ژبې د ساتنې او پالنې مسئله خورا مهمه ده، په ځانګړې ډول زموږ ملي او مورنۍ ژبه پښتو چې یوازې یوه ژبه نه، بلکې د کلتور او دود یوه وثیقه هم ده. په بهر کې افغان کډوالو ته بویه چې په خپله کورنۍ کې خو خپله ژبه ژوندۍ وساتي، ویې پالي، بلکې خپله لهجه (ګړدود) هم هېر نه کړي او په هر حالت کې یې د خپلو بچیانو تر منځ د یوه مهم ارزښت په توګه وپالي، دوی باید هم خپل کور او اړیکو په خپله ژبه خبرې وکړي، بلکې خپلو اولادونه خپل دود دستور او کلتور هم په مورنۍ ژبه په عملي بڼه ور ولېږدوي. ددې لپاره ښوونیز مرکزونه، کورسونه او نور تدریسي مواد چمتو کول هم د دوی دنده ده، د کوربه هېواد له اثارو څخه خپلې ژبې ته د ګرامر او نورو علمي اثارو ژباړه خو به بیخي بله ستره لورېینه وي.

## ملي او مذهبي ورځې

دیني او ملي ارزښتونه د هویت یوه بله مهمه برخه ده چې په ملي او مذهبي ورځو کې په غوره ډول را څرګندېږي، پالل کېږي او نوي نسل ته کلتوري پوهه ور لېږدوي، اړینه ده چې ټولې مذهبي او ملي ورځې لکه اخترونه، نوی کال، د ملي مشرانو د پیدایښت ورځې، د ژبې او کلتور ورځې او ورته نور په لوړه او تېته کچه ونمانځل شي او که چېرته د کلتوري ټولنو له لوري نه وي، لږ تر لږه په کورنۍ کې د یوه واړه محفل یا یادونې په ترځ کې ماشومانو ته ور یاد شي.

## مړې ژوندۍ

لکه څنګه چې په هېواد کې راشه درشه او مړې ژوندۍ د اړیکو د ټینګښت، خپلوۍ پالنې او سیالۍ یو غوره ډګر دی، بهر کې هم دا مناسبتونه ددې سبب ګرځي چې افغان کډوال یو له بل سره لا ښه وپېژني، یو د بل ستونزو، خوښیو او حال احوال ته رسېدنه وکړي، ځکه خو اړینه ده چې د وادونو، ماشوم پیدایښت، جنازې او ناروغ پوښتنې ته په هر ډول بوخت ژوند کې وخت پیدا شي، یو بل وپالي او هېوادنۍ رشتې یا اړیکې پرې نه کړي، همداسې خپلو کې د خپښیو او خوښیو له لارې یو بل را نږدې کړي او د پردي توب او د کوربه هېواد په ټولنه کې له محوه کېدو څخه ځانونه وژغوري.

## د هېواد او ارزښتونو په اړه معلومات

د خپل هېواد او ملي ارزښتونو په اړه به اولادونو او نوو زېږېدلو ماشومانو ته پوهه او معلومات ورکول له خپل هېواد، تاریخ او کلتور سره د هغوی د اړیکې د ټینګښت او پیاوړتیا سبب شي، ملي جامې، ملي عمومي هویتي تصویر او نورو ارزښتونو په اړه دا معلومات د خبرو اترو، کتابونو او نورو مناسبتي ورځو او محلفونو په ترځ کې ورکول کېږي، د هېواد د ولایتونو،

**ګڼ داسې افغان کډوال شته چې په بهرنیو هېوادونو کې یې تر مېشتېدنې وروسته تر هر څه وړاندې کلتوري ټولنې، بنسټونه، د خپلې ژبې د ساتنې او زده کړې مرکزونه او داسې خپرونې رامنځته کړې چې په کډوالۍ کې خپل کلتور او هویت ژوندی وساتي، ځکه خو د مهاجرو ادبیاتو او کلتور موضوع ورسره رامنځته کېږي**

دودونو، معاصر تاریخ او اړتیاوو په اړه نوو ماشومانو او هلته لویو شوو ځوانانو ته دا معلومات به د بې هویتۍ او پردیتوب بحران له منځه یوسي او د ملي غرور احساس به پیاوړی کړي.

## د خیر ښېګڼې روحیه

زه ګڼ افغانان پېژنم چې له خپلو ناخیزه مالي امکاناتو څخه یې بیا هم هلته د ور کډه شوو افغانانو او هم په هېواد کې د خپلو بې وزلو خپلوانو او لرې هېواد والو لاسنیوی کړی دی، ګڼو هغو یې خیریه ټولنې او بنسټونه رامنځته کړي چې د خپلې خولې مړی یې له نورو سره نیمه کړې ده چې دا واقعا یو نېک دود دی او دا روحیه د غوره مسلمانۍ استازولي کوي، ښه وي چې په دې برخه کې د کوربه هېوادونو د بشري خواخوږۍ او انسانیت تجربې را خپلې او نوي نسلونه هم وربانديې وپالل شي.

## زده کړه او مهارتونه

په بهرنیو هېوادونو کې هم نوو ماشومانو او هم لویانو ته د غوره زده کړې، مهارتونو او تجربو د خپلولو دروازې خلاصې دي، که څه هم خپله کډوالي او بل هېواد کې مېشتېدنه په خپل ذات کې د ژوند یوه لویه تجربه او زده کړه ده، خو ددې اړتیا لا زیاته ده چې ماشومان او ځوانان باید په ښوونځیو او د مسلکي زده کړو مرکزونو کې عالي زده کړې او مهارتونه تر لاسه کړي، ځکه چې لوستي او مهارت لرونکي وګړي هم کوربه هېواد او هم خپلې ټولنې ته خیر رسولی شي او په هر حالت کې یې په درد خوري، چې ټولنه کې یې مثبت اغېز ثابت دی.

## ټولنیز اند او لیدلوری

زموږ ګڼ ځوانان په داسې شرایطو او چاپېریال کې لوی شوي چې له جسما لوی شوي خو فکر او لیدلوري یې لکه څنګه چې لازمه ده، وده نه ده کړې، ځکه خو اړتیا ده چې ماشومان د خپل کلتور په غېږ کې ټولنیز اند او لیدلوری ولري، دې لید سره په هغوی کې د زغم، پراخ نظرۍ، یو بل منلو او حوصلې کلتور پیاوړی کېږي، د افراط او تفریط له څنډو ژغورل کېږي او په منځنۍ حد کې د ژوند او ستونزو پر وړاندې د دریدو او مبارزې وړتیا پیدا کوي.

په پای کې ویلی شو چې بل هېواد ته کډوالي یوازې د سر پناه کولو او بل ژوند د پیل چاره نه ده، بلکې په بل هېواد کې د خپل هېواد، هویت او فرهنګ استازولي ده چې دا استازولي له پوهاوي او روزنې پرته نه تر سره کېږي او که چېرته له خپلو هېوادنیو ارزښتونو او کلتور سره مخه ښه وشي، بیا د بې هویتۍ نړیوال بحران کې یو انسان په اسانه لاره ورکوي، غوره به دا وي چې د نړیوالتوب ستر کلي ته له خپل هویت او کلتور سره په اغېزناک ډول ور داخل شي.

# پر پښتو ژبه د مهاجرتونو اغېزې

**لیکنه: نازنین احمدزی**

مهاجرت په کوربه هېواد او د کډوالو ټولنو دواړو له پاره په ژبې باندې د پام وړ او ځو اړخیزه اغېز لري. لکه څنګه چې مهاجرت د یوې ژبې په تحول کې ډېره اساسي ونډه لري نو د نړۍ ډېرې ژبې د مهاجرتونو په وسیله ډېرې پراخې شوې دي او پرمختګ یې کړی.

خو داسې ډېرې ژبې هم شته چې د مهاجرتونو په وسیله له پرمختګ څخه شاته پاتې شوي یا هم د مهاجرتونو په وسیله په بشپړ ډول له منځه تللې دي؛ ځکه چې دا ژبې د نورو ژبو تراغیزې لاندې راغلې دي او ورو ورو یې خپل ویونکي له لاسه ورکړي دي.

د پښتو ژبې په تحول او پراختیا کې هم مهاجرت ډېره ستره ونډه لرلې ده. پښتنو چې د تاریخ په بیلا بیلو دورو کې مهاجرتونه تر سره کړي او له یو ځای څخه بل ځای ته تللي دي د دوی د تګ او پراختیا سره پښتو ژبه هم پراخه او ورو ورو یې ویونکي هم ډېر شوي دي. ان دا چې د پښتو لهجه پر پښتو ژبې بدله شوې ده. همدا لامل دی چې پښتو ژبه د ساکي ژبی متحوله بڼه یا لهجه بلل کېږي.

اوس مهال مهاجرت پښتو ژبه دې پوړ ته رسولې ده چې بیلا بیلې لهجې پکې شتون لري او سره له دې چې ډېر زوړ تاریخ لري او ویونکو یې ډېر مهاجرتونه هم تر سره کړي دي، بیا هم دا ژبه تر اوسه ډېره سوچه ژبه ده.

دپښتو ژبې دا خصوصیت ددې لامل شوی دی چې سربیره پر پښتنو غیر پښتانه لیکوالان او څېړونکي هم پښتو ژبې ته مخ واړوي او په هغې کې څېړنې تر سره کړي چې اوس هم زیاتره مستشرقین د پښتو ژبې په څېړلوکې بوخت دي او د پښتو ژبې په شننه او تحلیل کې یې ډېر اړین او ستر کارونه هم تر سره کړي دي.

یو له هغو اړینو او مهمو کارونو څخه چې مستشرقینو د پښتو ژبې په هلکه ترسره کړي دي د پښتو ژبې د لهجو وېش دی. د پښتو ژبې د لهجو د ویش په اړه د کورنیو او بهرنیو څېړونکو د نظر یو والی نه لیدل کیږی، ټولې لهجې چا په دوو څانګو او چا پر دریوو څانګو بیلې کړې دي.

نارو یژي ژبپوهاند پروفیسور مار ګنستیرن پښتو لهجې په دوو عمده برخو ویشلې دي نوموړی وایي: «د پښتو لهجو ډلبندي آسان کارنه دی ځکه د لهجو سیمې سره تداخل لري. د پښتو ژبې د دوو لهجو موجودیت مشهور دی: یوه نرمه لهجه (ښ ،ږ) او بله سخته لهجه (خ ، ګ ) خو هغه لهجې چی متوالې پښتو په نسبت د خپلواکو یا واول غږونو په برخه کې زیاتې ځانګرنې لري دا لهجې ځینی له دې دوو ډولو څخه په یوې او ځینې یې په بلې پورې انتساب پیداکوي. نو نوموړی د دغو دوو لهجو برید (ژ – z ) او (ش – s ) فونیمونه ګڼي په نرمه یعنې سهیل لویدیځه لهجه کې دا دوه فونیمونه په خپل اصلي

> سره له دې چې پښتو ژبه په نړۍ کې یوه له هغو ژبو څخه ده چې تر اوسه ډېره سوچه پاتې ده؛ بیا هم د مهاجرتونو او ځینو نورو سیاسي اقتصادي، تولنیزو او فرهنګي راکړې ورکړې په واسطه د ځینو نورو ژبو لغتونه هم پښتو ژبې ته رانوتي دي او د پښتو ژبې ویونکي یې داسې کاروي لکه خپل اصلي ویيونه یې چې وي.

کیفیت یعني په (ش او ژ) تلفظ کیږي ، حال دا چې سخته یا شمال ختیځه لهجه کې د (ش ، ښ او یا خ او ږ ، ګ) په بڼه تلفظ کیږي.»

نیکو لای الکساندر ویچ دوریانکوف هم د پښتو لهجې په دوو څانګو داسې ویشي:

۱ –ختیځه (ننګرهاری) څانګه چې د پیښوری په نوم هم یادیږي یا د پښوري مومندو افریدو او یوسفزو لهجې پکې شاملې دي زیاتره پښتانه هم په دې څانکې پوری اړه لري.

۲ –لویدیځه (کندهاری) څانګه چې له کندهاری، وزیري او د ختیکو له لهجو څخه جوړه شوې ده.

ددغو دوو څانکو توپیر د دوی په غږیز سیستم کې دی چې په لویدیځه څانګه کې د (ښ او ژ) او په ختیځه څانګه کې متقابلا په (خ او ګ) تلفظ کیږي او همداسې د دغو دوو څانګو په ګرامري جوړښت کې هم بدلون لیدل کیږی .

پوهاند صدیق الله ریښتین پښتو لهجې لومړی په دوو سترو ډلو (اصلی او فرعی) ویشي او اصلی لهجې یې بیا په دریوو ګروپونو ویشلې دي:

لویدیځه (کندهاری) لهجه

ختیځه (ننګرهاری) لهجه

## منځنۍ لهجه

نوموړي دغه ویش هم د دوو بیواکو غږونو (ښ او ږ) پربنسټ کړی دی او وایي چې په کندهاری لهجه کې د (ښ او ږ) د (ش او ژ) اوازونو ته نږدې تلفظ کیږي.

بله څانګړنه یې داده چې په کمکي فونیمونوکې یې (ش) اواز په (س) بدلیږي یعني د وشو او شته پر ځای وسواوسته وایي. منځنۍ لهجه چې د مرکزي لهجې په نوم هم یادیږي.

ختیځه یا ننګرهاری د مومندو ، باجوړ ، اشنغر او یوسفزو په سیمو کې ویل کیږی او په دې لهجه کې (ښ او ږ) غږونه د (خ او ګ) په خیر ویل کیږی.

پوهاند ریښتین د فرعي لهجو په اړه وايي:« چې د پښتو ژبې فرعي لهجې ډېرې او مهمې يې دادي( وزیری لهجه ، د خټکو لهجه ، کاکړی لهجه ، د احمدزیو لهجه ، د وردګو لهجه ، د اپریدو لهجه ، د مومندو لهجه او د شینوارو لهجه.)»

د آوازونو په برخه کې د مهاجرتونو اغېز:

-بدلون: د فونیم او ګرافیم په برخه کې هم مهاجرت پر پښتو ژبې اغیز لرلی دی. اوس مهال پښتو ژبه تقریبا څلویښت غږونه یا فونیمونه لري چې په دې کې یې اته اصلي غږونه دي (ټ ، ډ ، ځ ، څ ، ړ ، ږ ، ښ ، ڼ ) چې دې اصلي غږونوکې (ټ ، ډ ، ړ ، ڼ ) په پښتو او هندی ادب کې ګډ دی او (ځ ، څ ، ږ ، ښ ) په پښتو او روسي ژبې کې ګډ دي لس فونیمونه خاص عربی توری دی چې پښتو ادب ته راغلی (ث ، ذ ، ح ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ف )

او څلور نورفونیمونه خاص په پښتو او دري ژبو کې دی (پ ، چ ، ژ ، ګ )او پاتې نور فونیمونه په دري عربي او پښتو ژبو کې ګډ دي . چې ددې غږونو د ګډوالی علت همدا مهاجرت دی .

د ګرافیم په برخه کې مهاجرت دومره اغیزه کړی چې د پښتو ژبې ټول ګرافیمونه د عربي ژبې پر بنسټ لیکل کیږي.

ساتنه: د دومره بدلون په څنګ کې پښتو ژبې د نورو ژبو کلمې د خپل فونیمیک چاپېریال تر اغېزې لاندې هم راوستي دي، لکه ناتو ، ناټو ، انترنت ، انټرنټ ، سګرت ، سګرټ په شکل تلفظوي.

## د لغتونو په برخه کې د مهاجرتونو اغېز:

سره له دې چې پښتو ژبه په نړی کې یوه له هغو ژبو څخه ده چې تر اوسه ډېره سوچه پاتې ده؛ بیا هم د مهاجرتونو او ځینو نورو سیاسي اقتصادي، تولنیزو او فرهنګي راکړې ورکړې په واسطه د ځینو نورو ژبو لغتونه هم پښتو ژبې ته راننوتي دي او د پښتو ژبې ویونکي یې داسې کاروي لکه خپل اصلي ویيونه یې چې وي.

پښتو ژبې ته ډېر پور وییونه له : عربي ، روسي ، دري ، انګریزي ، فرانسوي ،ترکي ، ایټالوي ، هندي لاتیني او نورو ژبو څخه راغلي دي. دا لغتونه که له یوې خوا د ژبې سوچه والی کم رنګه کوي؛ له بلې خوا د یوې ژبې لغوي خوا هم بډایه کوي او ورسره یو ځای ټولنې ته هم پرمختګ ورکوي، ځکه چې نوي وییونه هغه وخت یوې ژبې ته راننوځي کله چې یو نوی شی یا پدیده کشف شي. ځینې له دې لغتونو څخه عبارت دي له:( اسلام، مور،څوکی، چای جوش،پتنوس،جرګه، اولس، بیرغ او داسې نور.)

## د اصطلاحاتو په برخه کې د مهاجرت اغیز:

- د اصطلاحاتو پور اخیستل: یو له هغو اغیزو څخه چې مهاجرتونو پر پښتو ژبې باندې رامنځته کړي دي هغه دادي چې د نړی له بیلابیلو ژبو څخه ګن شمیر اصطلاحات پکې را دننه شوي دي. لکه : کمپیوټر ، سینما ، قافیه ، ادب ، ادیب ، شعر ، انټرنټ ، کیمیا ، فزیک ، موبایل او داسې نور

- ۲- د اصطلاحاتو لیږد: سره له دې چې په پښتو ژبه کې ګڼ شمیر اصطلاحات له نورو ژبو څخه را دننه شوي دي، پخپله د پښتو ژبې اصطلاحات هم نورو ژبو ته لیږدول شوي دي د بېلګې په ډول د ولسمشر ،ښاروال ، څارنوال ، پوهنتون ، پوهنځی ، او داسې نور اصطلاحات دري او ازبکي ژبو ته لیږدول شوي دي.

## د ترکیبونو په برخه کې د مهاجرتونو اغېز:

سربیره پر نورو برخو مهاجرتونو د ترکیبونو په برخه کې هم پر پښتو ژبې خپل اغیز رامنځته کړی دی. موږ سلګونه داسې ترکیبونه لرو چې پښتو نه دي، بلکې له بلې ژبې ژباړل شوي دي دغه ترکیبونه له یوه اړخه پښتو نه دي او ژبه یې بې خونده کړې له بل اړخه ډېر کله بله مانا ورکوي لکه :(صورت نیولی / صورت موندلی، پرلار اچول، د پای ټکی ایښودل، اړیکه

**اوس مهال مهاجرت پښتو ژبه دې پوړ ته رسولې ده چې بیلا بیلې لهجې پکې شتون لري او سره له دې چې ډیر زوړ تاریخ لري او ویونکو یې ډیر مهاجرتونه هم تر سره کړي دي، بیا هم دا ژبه تر اوسه ډېره سوچه ژبه ده.**

نیول ،تصمیم نیول او داسې نور)

په ژباړل شوو آثاروکې موږ کله کله له دا شان ترکیبونو سره مخ کیږو. د بېلګې په ډول د صورت نیولی ترکیب د فارسي ژبې (صورت میگیرد ) کټ مټ ژباړه ده هغوی چې ژبه یې سوچه پاتې ده یا په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي هیڅکله (صورت نیولی ) ترکیب نه کاروي . پر پښتو ژبې له فارسي ژبې د ژباړی دا ډول اغیز ډیر دی موږ یې دلته ځینې بیلګې راوړو .

در باره بت های بامیان تحقیقات جدیدی صورت گرفته است .

د بامیان د بتانو په اړه نوو څیړنو صورت نیولی دی .

در زمینه تهیه اب پاک پیشرفت های زیاد صورت گرفته است .

د پاکو اوبو د برابرولو په برخه کې زیات پرمختگونه صورت نیولی دی .

دغه ډول ژباړې ډیرې دي موږ پر همدغه بسنه کوو چې له بده مرغه زموږ ژبه یې مصنوعي کړې او زیان یې ورته رسولی دی ددې لپاره اسانه ده؛چې ووایو (نوې څیړنې شوې دي ) یا (پرمختګ شوی دی )

د پښتو گرامر په برخه کې د مهاجرت اغېز

پښتو ژبه ډېری وخت د حاکمې ژبې تر اغېزې لاندې راغلې او جملې یې د بلې ژبې د گرامري سیستم تر اغېز لاندې ژباړل شوي دي لکه:

ناکره (پارسي څپلې پښتو )

د سولې د پاره تدابیر اتخاذ کول

ته چیرته پاتې کیری ؟

په کابل کې خپل ژوند په سروړې .

کره پښتو جملې .

د سولې لپاره لارې چارې غوره کول .

ته چیرې اوسې ؟

په کابل کې خپل ژوند تیروې .

د پښتو ادب په برخه کې د مهاجرتونو اغېز:

پر پښتو ژبې او ادب هم مهاجرت خپله اغیزه اچولې ده داسې چې ډېر فورمونه او ادبي ژانرونه له نورو ژبو او ابیاتو څخه پښتو ژبې او ادب ته راغلي دي. لکه له عربو سره د مهاجرت او نورو راکړې ورکړې په ترڅ کې دیارلس ادبي فورمونه زموږ شعري ادب ته رانوتي دي، چې هغه عبارت دي له (غزل ، قصیده ، مثنوي ، مثلث ، مربع ، مخمس ، مسدس ، مسبح ، مثمن ، معشر ، ترجیح بند ، ترکیب بند او مشجر .)

همدارنګه په اوسني عصر کې هایکو شعر له چینایي ادبیاتو څخه او سپین شعر یا ازاد شعر له غربي نړۍ او ادب څخه پښتو ادب ته راغلي دي.

مهاجرت نه یوازې د ادب په نظمي برخه کې پر پښتو ادب اغیزه اچولې ده ، بلکې په نثري ادب کې یې هم خپل اثرات رامنځته کړي دي .لکه لنډه کیسه اردو ادب څخه، ناول له لاتیني ژبې څخه، رومان له فرانسوي ژبې څخه او ډرامه له یوناني ژبې څخه پښتو ادب ته راغلې ده.

## په تعلیمي ډګر کې د مهاجرتونو اغېز

حاکمې ژبې تل پر پښتو ژبه اغېز رامنځته کړی او ډېری پښتانه دننه په خپل هېواد کې او هم په مهاجر شویو هېوادونو کې پر خپلې مورنۍ ژبې له تعلیمي حق څخه محروم پاتې دي.

همدارنګه دا چې زموږ په هېواد کې تل فارسي ژبه په سیاست کې دخیله ده، ډېری پښتانه هم هڅه کوي چې سیاست ته مخه کړي او په وجه یې خپله ژبه او خپلې ژبې ته خدمت کول هېروي.

## څو ژبیز چاپېریال رامنځته کول:

د دې له پاره چې هر هېواد زموږ په مورنۍ ژبې خبرې نه کوي، نو هر کله چې پښتانه بل هېواد ته ځي، دوی په بهرني چاپېریال کې د حاکم هېواد ژبه وایي او دننه په کورني چاپېریال کې خپله ژبه وایي، چې په دې توګه مهاجرت د څو ژبو زده کړې مهارت پیاوړی کوي.

یا هم ځینې کورونه د بهرني چاپېریال تر اغېز لاندې راځي او ورو ورو خپله ژبه هېروي.

## د ژبې مطرح کېدل:

د پښتنو له مهاجرت سره د پښتنو ژبه، فرهنګ او کلتور نړیوالو ټولنو ته هم لېږدول شوی دی. ډېریو پښتنو لیکوالانو ګڼ شمېر آثار رامنځته کړي او ترڅنګ یې ډېری پښتو آثار نړیوالو ژبو ته ژباړلي دي، چې په وجه یې د پښتنو له ژبې او ادب سره نړیوال آشنا شوي او ډېری مستشرقین د دې لېوال شوي چې د پښتو ژبې په برخې کې لا ډېرې څېړنې ته دوام ورکړي.

## اخځلیکونه


١ ـ آریانا دایرة المعارف (٢٠١٧ م /١٣٩٦ ه . ش ) . شپږم ټوک . کابل : احمد مطبعه
٢ـ اورمړ ،خلیل الله (١٣٨۴ ه . ش ) . کابل مجله :١٥ ګڼه (١۴٥-١۴٧مخ). کابل :د افغانستان علومو اکاډمي
٣-زیار، مجاوراحمد (١٣٨٦ ه . ش ) . لیکلارښود ( یوه پښتو – کره پښتو ) . پېښور : دانش خپرندویه ټولنه
۴ـ شیرزاد ، پښتون آقا ( ١٣٨٨ ه . ش ) . ادبي ځېلونه او لومړنی لیکوال . کابل : اسد دانش مطبعه
٥ـ غوربندی ، میراجان (١٣٩۴ ه . ش ) . لکسیکالوژي ( لغت پوهنه ) . کابل : نامی انتشارات
٦ـ وحیدی ، اسد الله (١٣٩٦ ه . ش ) . پر پښتو نثر د ژباړې اغیز . کابل : اکسوس کتاب پلورنځی




# آیا Schufa پېژنئ ؟؟؟

صمیم سحر

آیا کله هم په یو اداره کښې د Schufa ورقه درڅخه غوښتل شوې ده؟ یا ولې باید د Schufa ورقه له ځانه سره ولرئ.

Schufa یو اداره ده چې په آلمان کښې د خلکو د مالي حسابونو امتیاز ارزیابي کوي، په اصل کښې Schufa ستاسې په ژوند کښې د مالي حسابونو د ښه او بد په اړه یو امتیاز دی، کله چې په آلمان کښې نوی ژوند پیلوئ ستاسې د مالي حسابونو امتیاز ۱۰۰ ٪ وي یعنې تاسې د Schufa ادارې سره په مالي حسابونو کښې پوره ۱۰۰ نومرې لرئ.

دا پدې مانا چې تاسو د کورونو په قرارداد کښې، یا د موبایل او انټرنیټ یا کلب یا د موټر د بیمې یا د بانک یا په هرهغه ځه کښې چې تاسې یې قرارداد کړی وي هیڅ مشکل ونه لرئ نو ستاسو نومرې د Schufa ادارې سره ۱۰۰ وي، یا په ساده ډول تاسې ټول هغه بیلونه یا قراردادونو ته پیسې پر وخت ورکړي دي چې تاسې مخکي ورسره قرارداد کړی وي اوهیڅ یوچا ستاسې په اړه شکایت ندی ثبت کړی.

خو که چیرته په کوم قرارداد کښې تاسې د کومې ادارې سره ستونزه ولرئ او یا یې پیسې پر وخت نه ورته ورکوئ، مثلا د کور قرارداد، موبایل و انټرنیټ یا د بانک قرضونه یا هم د موټر بیمه، یا هرهغه څه چې په مالي حسابونو پورې اړه لري او تاسې پکې ستونزې رامنځته کړی بیا مو د Schufa نومرې کمیږي او همداسې مو نومرې د ۱۰۰ څخه ۹۸،۹۹ او نورې کښته راځي او چې تر ۹۵ کښته سې تاسې د منفي Schufa په لیست کښې راځئ او په راتلوونکي کښې بیا نورې ادارې درسره هیڅ یو قرارداد نه کوي.

مثلا: ډیرې کمپنۍ یا ادارې د قرارداد درکولو څخه مخکې ستاڅخه د Schufa ورقه غواړي چې باید هغه کس یې د Schufa ادارې څخه ورته راوړي، په همغه ورقه کښې ستاسې د مالي حسابونو نومرې لیکل سوې وي چې په تیر وخت کښې تاسې د کومې ادارې یا په کوم قرارداد کښې ستونزه درلودلې او که نه، نو دلته نوې کمپنۍ یا نوی شرکت چې تاسې




غواړی نوی قرارداد ورسره وکړی مالومیږي چي ستاسې مالي امتياز څومره دی يعني په تېر وخت کښې د نورو شرکتونو يا کمپنيو سره څنګه واست.

اوس پوښتنه داده چې Schufa اداره زموږ په اړه زموږ د مالي حسابونو امتیاز څنګه ارزيابي کوي؟

او يا هم هغوی ته زموږ د ښه او بد حالت څنګه مالومیږي.

په اصل کښې Schufa اداره او يوه بله دې ته ورته اداره چې inkasso نوميږي په آلمان کښې د خلکو د مالي ستونزو کارونه مخته وړي، مثلاً، تاسې د موبایل یا انترنیت یا هم کور یا بل څه يو قرارداد له يو شرکت يا کمپنۍ سره ترسره کړی دی يا مثلا د بانک څخه مو قرضه اخیستې او بیرته يې نه ورته ورکوی، له دوه درې اخطارونو څخه وروسته بيا دا شرکت يا کمپنۍ دا موضوع Schufa يا inkasso ته د ثبوتونو سره سپاري، دا اداري بيا هغه کمپنۍ یا شرکت ته هغه خپل حق پیسې ورکوي او تاته خبر درکوي چې دا موضوع موږ ته سپارل سوې ده او تاته دا هم وايي چې په دومره وخت کښې مثلا يو مياشت يا دوه مياشتي کښې تاسې بايد دومره اندازه پيسي او ورسره زموږ مصارف هم تاديه کړی، دوی هم يو يا دوه ځلي د اختار په شکل خبر درکوي خو که يې ورنه کړی بيا که تاسې هرڅه ورلرئ مثلا کور، موټر، بانک کې پیسې حتا د لاس موبایل هم درڅخه ضبطوي چې بيا تاسې د شکايت حق هم نه لرئ او پدې سره ستاسې د مالي حسابونو يوه نومره يا يو امتياز هم د ۱۰۰ نومرو څخه کميږي او پدې سره تاسې مالومات د Schufa يا inkasso اداري سره ثبت پاته کیږي.

نو اول خو پکار ده چې هيڅ کوم يو قرارداد کښې د يوې کمپنۍ يا شرکت سره کومه ستونزه رامنځته نه کړو او که بيا هم رامنځته سي پر وخت يې پيسې يا حق ورته ورکړو ترڅو ددې ادارو سره مو د همېشه لپاره امتياز يوه ۱۰۰ وي.

کوښښ وکړی همېشه خپله Schufa کنټرول کړی، تاسې کولی سئ په meineschufa.de ويب سايټ کښې د خپل مالوماتو په ورکولو سره په کال کښې يو ځل په وړيا ډول دا هرڅه ترسره کړی او مالومات بيا د يوه پوسټ د لارې تاسې ددې اداري لخوا درلیږل کیږي او کولی سی ټوله مالومات ولولی او وګورئ چې ستاسې د Schufa نومرې څومره دي او يا تاسې د Schufa اداري سره په کوم حالت کښې قرار لرئ.

نو که چيرې تاسې کوم مشکل ولرئ يا ستاسې په اړه چا شکايت ثبت کړی وي او تاسې ورڅخه خبر نه ياست نو لطفا ژر تر ژره هغه ستونزه حل کړی مثلا که کوم قرارداد کښې پو سوي نه ياست يا د يوې جرمې پيسې درپسې پاته وي او يا هم بل څه، نو ښه به داوي چې پر وخت ستونزه حل شي او په راتلونکي کښې د کوم قرارداد د کولو څخه بې برخي نسئ او نورې اداري يا کمپنۍ درسره په هره برخه کښې قرارداد وکړي.



# جرمني مېشتي افغانان:
# د احساس او اړتیا تر منځ

ډاکټر محمد عاصم مایار

له وطنه زړه راکښل ساده نه دي. آن که منزل دې جرمني وي، یو داسې هېواد چې ښارونه یې ښایسته، قوانین یې روښانه، او ژوند په کې منظم روان دی. خو ډېر افغانان په جرمني کې له یو پټ کشمکش سره مخامخ دي، داسې کشمکش چې نه یې عقل حل کولی شي، نه یې احساس له پامه غورځولی شي. د وطن یادونه یې د زړه په بندو کنجونو کې پاتې دي، خو د ژوند د اړتیاوو حل یې په دې ټولنه کېويني.

هغوی چې دلته پاتې شي، ځان ته وایي: دا خو زموږ ځای نه دی. دلته پردي یو. خو چې وطن ته ولاړ شي، له داسې واقعیتونو سره، د هوایي ډګر له دروازې نیولې تر کوځې او کلي پورې، مخ کېږي چې د زړه یادونه یې د سترګو لیدونکو پېښو سره بدل شي. له همدې کبله بېرته جرمني ته راګرځي. دا یوازې یوه فلسفي تجربه نه ده، دا یوه رواني ضربه ده.

ما خپله دا تجربه کړې. د ۲۰۱۷ کال د اختر د لمانځه په خطبه کې امام په پوره ډاډ او یقین سره وویل چې: «دا زموږ وطن دی، موږ بېرته تللی نشو.» د طارق بن زیاد مثال یې راوړ، چې بېړۍ یې سوځولې وې، څو د تګ لاره پرې شي. حتی دا شعر یې ولوست: هر ملک ملک ماست که ملک خدای ماست.

هغه مهال زه حیران شوم. زړه مې دا خبره نه منله. خو کله چې څو کاله وروسته وطن ته ولاړم، هغه احساسات چې ما ورپورې هیلې تړلې وې، د نظام د سقوط، د امنیت نشتوالي او اقتصادي فشارونو لاندې ونړېدل. ځکه نو بېرته په خپله جرمني ته راوګرځېدم. هماغه خبره مې ذهن ته راغله، خو دا ځل یې معنی بله وه: دا زموږ وطن هم دی، دا ځای هم، او دا انتخاب هم زموږ د نفس یوه برخه ده.

خو دا ځل مې له جوماتونو سره اړیکه لا ټینګه کړه. د وطن احساس مې په کې وموند. له همدې کبله جومات زموږ د ټولنیز ژوند یو مهم ځای شو. ډېری افغانان، که هر څومره د کوربه هېواد په سیستم او ژبه نه پوهېږي، بیا هم ځان جومات ته رسوي. جومات یوازې د عبادت ځای نه دی، دا د خبرو، مشورې، روحیې او د احساساتو د تبادلې مرکز هم دی. دلته ډېری داسې خبرې کېږي چې د خلکو نظر بدلوي، یا لږ تر لږه، هغوی ته د نوي فکر دروازه پرانیزي.

د هغو کسانو لپاره چې دلته د پاتې کېدو او بېرته وطن ته د تللو ترمنځ یو ډول معلق ژوند تېروي، جومات نه یوازې د دیني بلکې د ټولنیزې پېژندګلوی یوه نښه ده. که دا نښه یوازې تر خطبې او لمانځه محدوده پاتې شي، نو ونډه به یې لږ وي. دا

**له وطنه زړه راکښل ساده نه دي. آن که منزل دي جرمني وي، یو داسي هېواد چي ښارونه یې ښایسته، قوانین یې روښانه، او ژوند په کې منظم روان دی. خو ډېر افغانان په جرمني کې له یو پټ کشمکش سره مخامخ دي، داسي کشمکش چي نه یې عقل حل کولی شي، نه یې احساس له پامه غورځولی شي. د وطن یادونه یې د زړه په بندو کنجونو کې پاتې دي، خو د ژوند د اړتیاوو حل یې په دې ټولنه کې ویني.**

ځای باید زموږ لپاره د فکر، پوهاوي، همغږۍ او نوښت سرچینه وي. داسي چې دلته خپل ماشومان راولو، په کې د کوربه ټولنې د قوانینو او ارزښتونو سره پر خپلو تجربو خبرې وکړو، او له یو بل وپوښتو چې: که دا ځای زموږ نه دی، نو زموږ ځای چېرې دی؟

بله دا چې موږ یوازې خپلې جامې او یادونه له وطنه نه دي راوړي. موږ خپلې کیسې، دودونه، ارزښتونه، خواږه، غمونه، او هنرونه هم له ځان سره راوړي دي. جرمني که د اړتیاوو د پوره کولو ځای دی، د دې جوگه هم دی چې زموږ کلتوري ارزښتونه ومني. خو دا منل یوازې د کوربه ټولنې له لورې نه وي، بلکې زموږ د فعالو هڅو او هوښیارانه وړاندې کولو غوښتنه هم کوي. دا زموږ مسؤلیت دی چې خپل ارزښتونه ور وپېژنو، خوندي یې کړو، او د نوي نسل اړیکه ورسره وساتو.

زموږ ماشومان چې دلته لویېږي، ښایي وطن ته ولاړ نه شي، خو دا امکان شته چې له همدې ځایه د وطن د درد، اړتیا او هیلې احساس ولري. که دوی ته دا فکر ورکړو چې یو څوک کولی شي هم جرمنی وي، هم افغان، نو دوی به دواړه هویتونه خپل کړي. دلته به ښېگڼه وکړي، هلته به مرسته.

په جرمني کې میشت افغانان ډېر داسې فرصتونه لري چې کولی شي له خپلو ورځنیو مصروفیتونو هاخوا، خپل فکر، مهارت او امکانات د وطن د ښېگنې لپاره وکاروي. دا که د کتابونو لیکل، ژباړل او خپرول دي، او که انلاین تدریس، طبي مشورې، او یا د خیریه ټولنو ملاتړ. دغسې ابتکارونه کولای شي د جرمني او افغانستان تر منځ یو پیاوړی معنوي پل جوړ کړي.

البته دا هر څه یوازې په احساس نه کېږي، دا د پوهې، ژبې، قانون، او ټولنیز سیستم پر دقیق درک ولاړ کار دی. جرمني کې ژوند کول د هوښیارۍ غوښتنه کوي. افغانان باید د ژبې او قوانینو هاخوا، د ټول سیستم سره ځان اشنا کړي. یوازې د اسنادو لرل کافي نه دي، بلکې د اسنادو پر معنی پوهېدل او ترې استفاده کول مهم دي. او دا خلکو ته اقتصادي فرصتونه برابروي، له دولتي ادارو سره د اړیکو دروازې ورته خلاصوي، او د پرمختگ لپاره لاره هواروي.

که داسې و نه شي، ستونزې به له وخت سره زیاتې شي، ناهیلی به ژورې شي، او وطن پسې تلوسه به په درد بدله شي. ځینې افغانان د نه انډول شوي ژوند له امله، له ذهني فشار، ژور خپگان او روغتیایي ستونزو سره مخ دي. له همدې کبله، د خپلو اړتیاوو پوره کول، او د خپل هویت ساتل باید یو له بله جلا نشي، بلکې پر یوه هوښیارانه دریځ سره وتړل شي.

افغانستان که د زړه ځای دی، نو د یادونو لپاره به یې تلوسه تل ژوندۍ وي. خو دلته، چې اړتیاوې پوره کېږي، باید هغه دریځ هم وپېژنو چې د دواړو تر منځ پُل جوړوي. داسې دریځ چې له جوماته پیلېږي، او تر ښاري مشارکت، مسؤلیت منلو او ټولنیز اغېز پورې رسېږي. دا هغه لار ده چې زموږ نسل ته یې وده ورکول پکار دي، څو سبا زموږ اولادونه د همدې ټولنې دننه له خپلو ریښو سره لوی شي.



# د خیر لارې ته زما سفر

فرهاد زهیر

کله چې زه کوچنی وم، په ښوونځي او جومات کې مې دا اورېدلي وو، چې: «ستاسې له منځه تر ټولو غوره انسان هغه دی، چې نورو ته یې خیر ورسي.» دا د حضرت محمد (ص) مبارکه وینا ده. بیا چې زه څلورم یا پنځم ټولګي ته لاړم، د پښتو د کتاب په متلونو کې مو لوستي وو: «څه چې کرې، هماغه به رېبې.» زموږ ښوونکې به ویل: «ښه وکړه، ښه به درسره وشي، بد وکړه، بد به درسره وشي.»

موږ هغه وخت د پاکستان په پښتونخوا کې کډوال وو. د پېښور ښار د باچاخان بابا د پیروانو خبرې هم مې تل هلته یادېږي. هغوی به ویل: «خدای ته خدمت ته اړتیا نشته، د خدای مخلوق ته خدمت کول، خدای ته تر ټولو ستر عبادت دی.»

وروسته مې انګلیسي ژبه زده کړه. د انټرنېټ له لارې مې د انسان‌دوستو خلکو مستند فلمونه کتل. د مور ترسا، انجلینا جولي او شهزادګۍ دینا د بشرپالنې انځورونه به مې لیده، زړه مې خوشحالېده، او تل به مې دا هیله کوله چې کاش زه هم د دوی په څېر وای او د خیر کارونه مې کولای.

دا ټول الهامات، د مکتب، جومات، ټولنیز ژوند او د ښو انسانانو خبرې، زه دې ته وهڅولم، چې له ۲۰۱۰ تر ۲۰۲۳ پورې مې د خدای، وطن او انسانیت لپاره د مختلفو مستحقو خلکو لاسنیوی وکړ.

که څه هم ما کومه رسمي اداره نه لرله، خو موږ به له خپلو ملګرو سره یوځای بې‌وزلو ته خوراکي توکي وېشل. په ښوونځیو کې مو ماشومانو ته قرطاسیه ورکوله، هلکانو او نجونو ته مو کمپیوټر او انګلیسي کورسونه چمتو کول. ځینو بې‌وسه زده‌کوونکو ته مو د پوهنتون لګښتونه برابرول. چا چې شخصي پوهنتون ته فیس نه شوای ورکولی، هغوی سره به د فیسونو ورکولو په برخه کې مرسته ورسره کوله. آن د هغو ماشومانو درملنه مو هم وکړه چې د زړه سوري یې درلودل او هند ته مو

> **کله چې زه کوچنی وم، په ښوونځي او جومات کې مې دا اورېدلي وو، چې: «ستاسې له منځه تر ټولو غوره انسان هغه دی، چې نورو ته يې خير ورسي.» دا د حضرت محمد (ص) مبارکه وينا ده. بيا چې زه څلورم يا پنځم ټولګي ته لاړم، د پښتو د کتاب په متلونو کې مو لوستي وو: «څه چې کرې، هماغه به ريبې.» زموږ ښوونکي به ويل:**
>
> **«ښه وکړه، ښه به درسره وشي، بد وکړه، بد به درسره وشي.»**

ولېږل. معيوبو ماشومانو ته مو ويل چېيرونه برابرول، او ځينو ته مو د کار زمينه هم برابروله.

زموږ دا کارونه وروسته د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې هم وستايل شول – هندوستان، استراليا، امريکا او اروپا لخوا د بشردوستو انسانانو لخوا زموږ د فعاليتونو ستاينه يې تل کوله.

خو کله چې طالبان بيا په افغانستان واکمن شول، زموږ ټولې مرستې چې د افغان کډوالو او نورو انسان‌دوستو له خوا برابرېدې، له خنډ سره مخ شوې. سره له دې چې موږ غوښتل د خپلو خير رسولو فعاليتونو ته دوام ورکړو، خو د طالبانو تر واک لاندې ژوند ډېر سخت شو.

ما خپلې امريکايي همکارې، انا موسمن ته وويل چې: «په افغانستان کې ژوند ډېر تياره دی. غواړم چې د خپلې لور او دوو زامنو لپاره د يو روښانه راتلونکي او ښو زده‌کړو په خاطر، څه موده له هېواده ووځم.»

هغې زما اسناد د Amnesty International دفتر ته ولېږل. هلته ډانيل بالسِن، چې پخپله له روسيې څخه د کمونيستي ظلم له کبله د خپلې کورنۍ سره کوچېدلی و، زما قضيه وکتله او ويې ويل: «کله چې ستا دوسيه مې وليده، خپل مهاجرت مې سترګو ته ودرېد.» هغه زما اسناد د آلمان د بهرنيو چارو وزارت ته وسپارل. د هغوی له خوا زما قضيه ومنل شوه، اسلام‌آباد ته لاړم، انټرويو مې ورکړه، او آلمان ته راغلم.

سره له دې چې له خپل وطن بهر ژوند اسانه نه دی، خو کله چې اوس خپل فعاليتونو ويديو او انځورونو ګورم، خپل د خير کارونه لکه يوه افسانه راته ښکاري. خو يوه خبره راته روښانه شوې ده: تاسو چې څه لولئ، اورئ او ګورئ، هماغه ستاسو پر شخصيت تاثير کوي. خير کارونو چې ما ته خومره پېژندګلوی راکړه او زما شخصيت يې جوړ کړ، زه دا کريډيټ ټول ښه انسانانو ته ورکوم، چې ما ترې الهام واخيست.

نو هڅه وکړئ چې خپل اولادونه داسې فضا کې وروزئ، چې ښه انسانان ترې جوړ شي، او خپل وطن ته يې خير ورسي. زه چې څومره خلکو ته مې په ژوند کې ښه کړي، همدومره ښه ما ته د نړۍ له مختلفو خلکو رارسېدلي. يعنې، ښه وکړئ، ښه به ووينئ – بد وکړئ، بد به ووينئ.

په نړیواله کچه افغان کډوال د دوامدارو ننګونو سره لاس او ګرېوان دي. د امریکا نوې واکمنۍ چې د افغان جګړې پای ته رسولو شعار یې ورکاوه، په عمل کې داسې شرایط رامنځته کړل چې په نتیجه کې یې زرګونه افغانان له هېواده وتلو ته اړ شول. دغه بهیر ته اروپا هم اوبه ورکړه، خو نه د پناه غوښتونکو د منلو لپاره، بلکې د هغوی د راتګ د مخنیوي لپاره.

اروپايي ټولنه اوس هڅه کوي چې یو ګډ کمربند جوړ کړي، څو د کډوالو تګ راتګ محدود کړي. دا پالیسي که څه هم عمومي ده، خو تر ټولو زیات اغېز یې پر افغان کډوالو واقع شوی، ځکه هغوی له داسې یوه هېواد راوتلي چې جګړه، وږې تنده، ناورین او سیاسي بې‌ثباتي پکې دوام لري.

## جرمني سیاستونه او قانوني بندښتونه

د جرمني نوي ایتلافي حکومت، چې مشري یې مسیحي ډیموکرات فرید میرځ کوي، له وړاندې د افغان کډوالو په تړاو خپلې تګلارې ټاکلې دي. د پناه غوښتنې پروسه نه یوازې ستونزمنه ده، بلکې د «امن هېوادونو» پر بنسټ له افغانستانه راغلي خلک هم له شک سره ګوري.

د «ډیپورټ» یا شړلو قوانینو له مخې، یو افغان که د پناه غوښتنې اسناد ونه لري یا یې قضیه رد شي، نو امکان لري چې بیرته یو داسې هېواد ته واستول شي چې ژوند پکې هره لحظه له خطر سره مخ دی.

## انفرادي پېښې، جمعي سزا؟

په وروستیو کې یو شمېر پېښې چې پکې افغان کډوال ښکېل و، د رسنیو له لورې دومره پراخ خپاره شول چې د ټول ملت انځور یې بدل کړ. دا حالت د افغان ټولنې پر وړاندې ناسم قضاوت او تبعیضي چلند ته لاره هواروي. باید دا اصل ژور وپېژنو: جرم انفرادي عمل دی، نه قومي ځانګړنه.

## حللاري او مدني فشارونه

- حقوقي پوهاوی او ملاتړ: افغان کډوال باید د جرمني د کډوالۍ له قوانینو، خپلو حقونو او مسؤلیتونو سره بلد وي. غیر دولتي مؤسسې، ژورنالستان، او مدافع وکیلان کولای شي حقوقي ملاتړ زیات کړي.
- مدني مبارزه: د افغان کډوالو ټولنې کولای شي د سولېیزو مظاهرو، مدني کمپاینونو، او د ټولنیزو شبکو له لارې خپله غوښتنه مطرح کړي، څو حکومت د پناه غوښتونکو پروسه عادلانه کړي.
- رسانیزه مبارزه: باید مثبتې کیسې او تجربې رسنیو ته وړاندې شي، څو د افغان کډوالو ښه انځور وړاندې شي او عام افکار متوازن شي.
- د سیاستوالو سره مستقیم تماس: لیکونه، عرضنامې، او د مدني ټولنو له لارې د جرمني پارلمان غړو ته خپل پیغام رسول یو مؤثره لاره ده.

## پایله

افغان کډوال له یوې جګړې څخه تښتي، خو په بله، خاموشه او روحي جګړه کې ښکېل کېږي. دا جګړه د هویت، قبولو، انصاف، او بقا لپاره ده. که اروپايي ټولنه واقعاً د انساني ارزښتونو مدافع ده، نو باید د افغانانو درد ته غوږ ونیسي، د قضاوت پر ځای انصاف ته لومړیتوب ورکړي، او د یوې ټول‌شموله، عادلانه او بشري تګلارې بنسټ کېږدي

### جرمني کې د افغان کډوالو نوی حالت:

# له یوه جنګه بلې روحي جګړې ته

**ذبیح الله خورشیدي**



> د ژبې زده کولو لپاره حتمي نه ده چې په ګرامري اصطلاحاتو پوه شو. مور هره ژبه لکه د مورنۍ ژبې په میتود بغیر له ګرامري اصطلاحاتو او یا د ګرامر د جوړښتونو له حفظولو پرته زده کولی شو.

# له ظریف سنګر

## سره مرکه

**پوښتنه: تاسې په یوټیوب او ټیک ټاک کې د جرمني ژبې ګرامر او ورځنۍ محاورې ډېرې ښې تشریح کوئ. دا راته ووایئ چې جرمني ژبه مو چېرته، په څومره وخت کې او تر کومه کچه زده کړې ده؟**

ځواب: مننه. ما جرمني ژبه همدلته په جرمني کې زده کړې ده. په ۲۰۲۳ کال کې جرمني ته راغلم او وروسته له پنځو میاشتو وتوانیدم چې د انتګراشیون کورس پیل کړم. بیا اوو میاشتو کې د B۱ کچې ته ورسېدم. اوس مې کابو دوه کاله کیږي چې جرمني کې اوسیږم او د ژبې کچه مې B۲ ته رسولې ده.

**پوښتنه: دا نو ډېره جالبه ده. ستاسو درسونو ته چې سړی ګوري نو وايي چې ښايي په جرمني ژبه کې به مو ماسټري کړې وي. دا نو څنګه کیږي چې تر B۲ پورې مو ژبه ویلې خو پوهېږئ ډېر زیات. بله دا چې په دوو کلونو کې څنګه دومره تکړه شوئ؟**



ځواب: ستاسو له ستاينې ډېره مننه. زه فکر کوم چې ما سره زما د ژبې زده کولو مخکينی تجربې ډېره مرسته کړې ده چې د جرمني ژبې په ګرامري جوړښتونو مې سر ژر خلاص شي. زه په انګليسي او لږ په فرانسوي ژبه هم خبرې کولی شم او دوه کاله مې په وطن کې د انګليسي ژبې تدريس هم کړی. دا دواړه ژبې بيا په تېره انګليسي ژبه له جرمني ژبې سره په ليکبنه، لغاتونو او څه نا څه په ګرامري جوړښتونو کې ورته والي لري، نو دې دووه ژبو او د تدريس تجربې ما ته د جرمني ژبې پيچلی ګرامر او ستونزمنې کلمې آسانه کړې. البته بايد ووايم چې د پښتو ژبې ګرامري برخې لکه اسمي قضيې يا د نومونو جنسيت هم د جرمني ژبې د ګرامر په درک کولو کې راسره ډېره مرسته کړې چې له پامه يې نشم غورځولی. زه هڅه کوم په خپلو درسي خپرونو کې د جرمني ژبې ګرامر او لغاتونه ته پښتو کې يو ورته حالت پيدا کړم او بيا يې بيان کړم. دا کار هم زما د ژبې مهارت لوړوي او هم نورو سره مرسته کوي چې ژر په هغه ګرامر او کلمو باندې پوه شي.

**پوښتنه: ډېر ښه. تاسو د پښتو ژبې ګرامري جوړښتونه ياد کړل چې د جرمني ژبې زده کړه آسانوي. د پښتو ژبې فونولوژي يا غږونه څنګه بولئ؟ دا هم مرسته کوي که څنګه؟**

ځواب: هو بلکل تاسو ډېرې ښې موضوع ته اشاره وکړه. د پښتو ژبې په فونولوژۍ کې د خ او ښ آواز د جرمني ژبې په کلمو کې ډېر زيات کارول کيږي، لکه هغه کلمې چې د ch او يا د z توري پکښې راغلي وي، تلفظ يې د پښتو ژبې ويونکو ته ډېر آسانه وي چې دا د ژبې زده کولو کې ډېره مرسته کوي.

**پوښتنه: د پښتو ګرامر د مرستې ځينې مثالونه هم که راکړئ خوښ به شم.**

ځواب: د پښتو د ګرامر د مرستې يو مثال د نارينه او ښځينه نومونو سره د آرټيکل او صفت ګردان په ګوته کولی شم. لکه مور پښتو کې وايو: يوه توره پيشو، يو تور آس.

دلته د نارينه او ښځينه نوم لپاره آرټيکل او صفت کې بدلون راغی. همدا موضوع په جرمني ژبه کې هم شته او کله يې چې پښتو سره پرتله کړو، درک يې را ته آسانيږي. داسې حالت بيا په انګليسي او دري ژبه کې نشته. نو ويلم شم چې پښتو ژبه هم د جرمني ژبې زده کړې کې خپل رول لري.

**پوښتنه: تاسو وويل چې انګليسي درسره مرسته وکړه. خبره دا ده چې انګليسي خو د ډېرو زده وي خو د جرمني ژبې زده کړه بيا ورته ډېره سخته وي. تقريباً هر څوک چې وغږوې، د دې ژبې له سختوالي سر**

**ټکوي. نو ستاسو تجربه استثنايي نه ده؟**

ځواب: دا خبره سمه ده، د جرمني ژبې ګرامر پيچلی دی او په لومړيو کې زما لپاره هم ستونزمن وو. خو هغه څه چې دا پيچلتيا يې را ته آسانه کړه، هغه دا وو چې زه د ګرامري موضوعاتو په تيوري پوهېدم يعنې په دې پوهېدم چې فاعل، مفعول، قيد يا صفت څه ته وايي او په جمله کې څه دنده لري. لکه ما به په دې موضوع ژر سر خلاصېده چې ولې په يوه جمله کې بايد د يو نوم له جنسيت يا اسمي قضيې سره د صفت وروستاړی هم تغير وکړي. دا ګرامري موضوعات ما هغه وخت زده کړي وو چې انګليسي مې زده کوله او بيا مې درس ورکاوه.

**پوښتنه: ډېر ښه. د يوټيوب چېنل کيسه راته وکړئ، کله او څنګه مو جوړ کړ؟ په يوازې سر يې چلوئ که نور ملګري يا مرستندوی هم لرئ؟**

ځواب: د يوټيوب پيلول را ته ډېر ستونزمن وو. نه مې ويډيو نيول زده وو، نه مې ايډيټ کول زده وو او نه مې د کمرې مخې ته د خبرو کولو تجربه درلوده. لومړنۍ ويډيو مې په دوو اونيو کې جوړه کړه. ځکه د ويډيو له جوړولو سره مې دا کارونه هم زده کول. پيل مې د کډوالو له يوه هايم څخه کړی. په لومړيو کې راته ډېره ستونزمنه وه خو هدف مې دا وو چې څه چې زما زده دي، بايد نورو ته يې هم ورسوم، په خاص ډول داسې څه چې په پښتو ژبه کې يې په اړه په يوټيوب کې ډېرې خپرونې نشته. او ټولې خپرونې په يوازې سر خو د کورنۍ د هڅونې پر مټ ترسره کوم.

**پوښتنه: نو د ويډيو ثبتول، ايډيټول، ګرافيک ورزياتول او نورې چارې مو پخپله زده کړل؟**

ځواب: هو دا هر څه مې په خپله له انټرنټ څخه زده کړل.

**پوښتنه: آفرين! د مخاطبانو غبرګون څنګه دی؟ څومره کتونکي لرئ او د چېنل چلولو ته څومره وخت ورکوئ؟**

ځواب: اونۍ کې مې يوه يا دوه ورځې يوټيوب ته ځانګړې کړې دي او د ورځې دوه ساعته ټيکټاک ته وخت ورکوم. د يوټيوب چينل په يوو کال کې ٦ زره مخاطبين پيدا کړل او د ټيکټاک اکونټ مې په يوه مياشت کې ١٤٠٠٠ فالورو ته ورسېد. مخاطبينو زما خپرونو ته ډېر مثبت غبرګون ښودلی او ما ته يې ډېره مينه راکړې چې زما لپاره د هڅونې او انرژۍ لامل دي.

**پوښتنه: چې څوک داسې خيرمن وي لکه تاسې نو مخاطبان به يې خود ستايي. وړاندې مو وويل چې په وطن کې مو انګليسي ژبه تدريسوله، همدا مو مسلک دی که څنګه؟**

ځواب: ما د اقتصاد په برخه کې زده کړې کړې. د انګليسي ژبې تدريس مې د پوهنتون تر څنګ يو مصروفيت وو. خو له تدريس سره ډېره مينه لرم.

**پوښتنه: نو دلته مو څه پلان دی؟ کوم مسلک مو پالل غواړئ، اقتصاد که تدريس؟**

ځواب: دا نو ستونزمنه پوښتنه ده. که څه هم زما زده کړې د اقتصاد رشته کې په جرمني کې د ليسانس په کچه په رسميت پيژندل شوې دي خو زما له تدريس سره ډېره علاقه ده. هڅه کوم جرمني ژبه کې C1 کچه ترلاسه کړم او د ژبې رسمي استاد شم.

**پوښتنه: خدای مو ورته وسې کړه. را به شو بېرته د جرمني ژبې زده‌کړې ته. زما تجربه دا ده چې په جرمني ژبه کې د جملو حفظول ګټه کوي. ما چې کومې جملې له ځان سره ډېرې تکرار کړې دي، د خبرو پر مهال مې پر ژبه جاري کېږي. تاسې په کې څه واياست؟**




ځواب: زه تاسو سره منظره یم. د جملو یادول او څو ځلې یې له ځان سره تکرارول د خبرو پر مهال پر ژبه ژر جاري کېږي. دا کار هغه وخت نور هم ګټور کېدلی شي چې له یوې جملې سره نورې ممکنه کلمې هم وکارول شي چې یوازې یوه جمله له معینو کلمو سره په ذهن کې ځای ونه نیسي، بلکې ګرامري جوړښتونه هم په ذهن کې راجوړ شي. دا کار بیا په نورو حالاتو او ځاینونو کې هم د ژبې روانېدو ته مرسته کوي.

## پوښتنه: مننه. ښه مشوره ده. هغه کسان چې په ګرامري اصطلاحاتو نه پوهېږي او غواړي چې جرمني ژبه زده کړي، هغوی ته بیا څه مشوره ورکوئ؟

ځواب: دا ډېره مهمه پوښتنه ده. لومړی باید ووایم چې د ژبې زده کولو لپاره حتمي نه ده چې په ګرامري اصطلاحاتو پوه شو. موږ هره ژبه لکه د مورني ژبې په میتود بغیر له ګرامري اصطلاحاتو او یا د ګرامر د جوړښتونو له حفظولو پرته زده کولی شو.

دغو اصطلاحاتو ته هغه وخت ډېره اړتیا پیدا کېږي چې زمونږ په ذهن کې د یوې قاعدې په اړه پوښتنه رامنځته شي. د دې لپاره چې دا پوښتنه په واضح ډول بیان کړو او بېرته سم جواب ترلاسه کړو، بیا ښه ده چې په ځینو اصطلاحاتو پوه شو.

مشوره مې دا ده چې یو څو اساسي او اړین اصطلاحات زده کړو. لکه، فعل، فاعل، مستقیم او غیر مستقیم مفعول، صفت، آرتیکل، اسمي قضیه او داسې نور. کله چې دې اصطلاحاتو سره په درسي کتاب کې مخ کېږو، بهتره دا ده چې د انټرنټ یا د مصنوعي ځیرکتیا په استفادې سره ځان پرې پوه کړو.

## پوښتنه: تاسو مصنوعي ځیرکتیا یاده کړه. دغه وسیله د ژبې د زده کولو لپاره څنګه کارولی شو؟

ځواب: مصنوعي ځیرکتیا په تیره بیا چټ جي پي ټي د ژبې زده کولو کې د یوه لارښود او پارټنر رول لوبولی شي. د محاورې، لارښوونې، او د غلطیو په اصلاح کولو کې له موږ سره ډېره مرسته کولی شي. موږ کولی شو د پیچلو جملو د ګرامري تحلیل لپاره ترې ګټه پورته کړو. لکه ځینې وخت یوه جمله دومره پیچلې وي چې سره له دې چې ټولې کلمې یې وژباړو، بیا هم مفهوم ترې نشو اخیستلی. دلته نو بیا چټ جي پي ټي دا جمله را ته د ګرامر له نظره تشریح کولی شي او معنا یې را ته واضحه کوي.

د دې ترڅنګ چټ جي پي ټي سره خپل د محاورې مهارت هم




لوړولی شو. یوازې باید د خپلې ژبې کچه او د خوښې موضوع ورته وټاکو او نور نو ورسره خبرې وکړو.

خو یوه موضوع د یادولو وړ ده. چې چټ جي پي ټي هم ځینې وخت غلط معلومات راکوي. نو که چېرې د هغه په درکړل شویو معلوماتو شکمن کېږئ، دوه ځلې د بیا کتنې غوښتنه ترې کوي. او د اړینو معلوماتو لپاره ښه به دا وي چې معتبرو ویبپاڼو یا کتابونو ته مراجعه وکړئ.

**پوښتنه: ها بله ورځ مې له یو چا نه د Anki نوم واورېد. دغه اپلیکېشن تقریباً د هر شي زده کړه آسانوي. د ژبې زده کړې لپاره هم ډېر ګټور شی دی. دغسې نور اپلیکېشنونه یا پورټالونه هم شته؟ تاسو ته کوم اپلیکېشن ښه ایسي؟**

ځواب: اوس د انټرنټ په دنیا کې د ژبې زده کولو ډېرې آسانتیاوې شته چې د زده کړې، ژباړې او یا د ګرامر او لغاتونو د تمرین لپاره ګټور دي. د دغه اپلیشکن ترڅنګ چې تاسو یې نوم واخیست، نور ډېر آپلیکشنونه او پورټالونه شته چې زه کولی شم د یو څو نومونه او کارونه دلته ذکر کړم:

یو یې د Duolingo په نوم دی چې د شروع لپاره د یوې ژبې د اساساتو په زده کولو کې ګټور دی.

بل یو، یوه ویبپاڼه ده د DW Deutsch lernen په نوم. په دې ویبپاڼه کې د جرمني ژبې د هرې کچې اړوند ویډیویي خپروني او ورسره د لغاتونو او تلفظ لپاره ګټور تمرینونه هم شته.

د محاورې لپاره د Tandem په نوم یو اپلیشکن دی چې هلته زده کوونکي کولی شي د ځان لپاره یو پارټنر پیدا کړي. ښه خبره دا ده چې دې آپلیشکن کې د جرمني ژبې ویونکي هم شته چې غواړي نورو سره د ژبې او حتا د ادغام په برخو کې مرسته وکړي.

زما لپاره ډېر مرستندویه آپلیکشنونه چې ژر د لاسرسي وړ دي او د درس په وخت کې د پوښتنو لپاره چټک ځواب ورکوي. Google Translate او Chat GPT دي. دا دواړه زما د درسي کتاب ترڅنګ تل راسره وي.

**پوښتنه: د کوم آنلاین کورس د جوړولو تکل خو به نه لرئ؟**

ځواب: هو ولې نه. که وخت راسره ملتیا وکړي، په همدې نږدې وختونو کې یو آلاین کورس پیلوم چې په هغه کې د هرې کچې د زده کړې او تمرین لپاره بشپړ درسي او تمریني مواد موجود وي.

**پوښتنه: دا خو به ډېره ښه شي. بله خبره مې دا کوله چې ځینې پښتانه ممکن په یوې بهرنۍ ژبې ښه وپوهېږي خو پخپله ژبه یې بیا نه شي تشریح کولی، خو تاسې ماشاالله په پښتو کې هم ډېر تکړه یاست. فکر کوم چې زده کړې به مو په کابل کې کړې وي، او طبعاً په فارسي ژبه نو پښتو مو څنګه داسې دقیقه زده کړې ده؟**

ځواب: بلې هو. ما ښوونځی او پوهنتون دواړه په دري ژبه ویلي خو پښتو ته مې هم ډېر وخت ورکړی. له پښتو شعر او ادب سره مینه لرم. کله کله د پښتو ژبې رومانونه لولم. په ټولنیزو رسنیو کې پښتانه لیکوالان هم تعقیبوم ترڅو د پښتو ژبې مهارتونه مې یوازې د کور او کلي تر چاپېریال پورې محدوده پاتې نشي.

**پوښتنه: نو که څوک وایي چې د ادبیاتو ګټه څه ده، ستاسې تجربه به ور مخې ته کړو. که څنګه؟ نو دا هم را ته ووایئ چې د چا شعرونه او د کوم لیکوال ناولونه مو خوښ شوي دي.**

ځواب: هو بلکل ادبیات خو د یوې ژبې لویه سرمایه وي او بیا د پښتو ژبې غوړوالی ډېر په ادبیاتو کې راښکاره کېږي. زه به په شاعرانو کې د عبدالباري جهاني صاحب نوم واخلم چې زما یې له شعرونو سره ډېره مینه ده او په ناولونه کې بیا د بغدادي پیر ناول چې محترم نصیر احمد احمدي لیکلی ډېر را ته په زړه پورې دی.

**وروستۍ پوښتنه: د هڅوب مجلې لوستونکو ته که د جرمني ژبې د زده کړې درې مهم رازونه ووایئ، هغه به څه به وي؟**

ځواب: زه به دې جرمني ژبې ټولو مینوال ته دا درې رازونه ور په ګوته کړم.

لومړي: جرمني ژبه په لومړیو کې ستونزمنه ده خو وروسته آسانېږي. نو که نوې مو پیل کړې وي او ډېره سخته در ته ښکاري، تشویش مه کوئ. ژر به له دغې مرحلې راووځئ.

دوهم: سټرس او پر ځان بې باوري ستاسو او د ژبې زده کولو تر منځ دېوال جوړوي. نو ژبه په شوق او باور سره زده کړئ. ځکه تاسو یو ځل په دې کار کې بریالي شوي یئ، کله چې خپله مورنۍ ژبه مو زده کوله.

او دریم به دا ووایم چې: ژبه یوازې له لغتونو او ګرامر څخه نه ده جوړه، بلکې کلتور او آوازونه هم د ژبې برخې دي. نو یوازې له کتاب څخه نه زده کېږي. باید واقعي ژوند کې د ژبې د تاثیر لاندې راشئ. د دې کار لپاره باید فلم، موسیقي، د ماشومانو کیسې، او ټولنیزې رسنۍ په جرمني ژبه وګورئ، ولولئ او واورئ.






# ایا کډوالي جرمونه زیاتوي؟

## (د معلوماتو پر بنسټ یوه کتنه)

جُوپ آډیما او ژان-وېکتور علیپور

### لنډیز

بهرنیان[1] د پولیسو د جرمونو په احصایوي راپور (PKS) کې د اصلي اتباعو په پرتله ډېره ونډه لري. یاد ارقام ښکاره کوي چې د بهرنیو اتباعو شتون د ناامنۍ ګواښ رامنځته کوي او د جرایمو کچه زیاتوي دا مقاله د پولیسو د جرمونو احصایې (PKS) د علمي څېړنو پر بنسټ په سیمو، ولسوالیو او ښارونو کې پر جرمونو د کډوالۍ اغېز څېړي.

د څېړنې پایله څرګندوي چې د بهرنیانو له لوري په لوړه کچه د جرایمو د ترسره کولو اصلي دلیل ځایي شرایط او ځانګړنې دي. زیاتره بهرنیان په هغو ښاري سیمو متمرکز لري چې د جرمونو کچه پکې لوړه وي.

مقاله په پای کې د هغو تدابیرو په اړه بحث کوي چې د کډوالو له لوري د جرمونو د ترسره کیدو مخه نیسي او د کډوالۍ او کډوالو په اړه ناسمې انګیرنې له منځه وړي.

### کډوالي او احصایه

بهرنیان[2] د پولیسو د جرمونو په احصایوي راپور (PKS) کې د اصلي اتباعو په پرتله ډېره ونډه لري.

په ۲۰۲۳ کال کې د استوګنې له سرغړونو پرته د هرو ۱۰۰۰ بهرنیو اوسېدونکو پر وړاندې ۵۷ بهرني اتباع د جرمونو پر ترسره کولو مشکوک ګڼل شوي دي چې په مقابل کې یې د آلماني اتباعو شمېر یواځې ۱۹ تنه و. که د هغو شکمنو کسانو شمېر چې په آلمان کې د اوسېدو ځای نه لري، له دې تعداد را کم کړو، بیا هم د بهرنیانو د شکمنو کسانو کچه نږدې درې چنده لوړه ده. سره له دې چې د جرمونو کچهرا ټیټه شوې خو دا توپیر د یوې لسیزې راهیسې په خپل ځای دی.

<u>یاد ارقام څرګندوي</u> چې د بهرنیو اتباعو شتون د ناامنۍ ګواښ رامنځته کوي او د جرایمو کچه زیاتوي.

۱ په دې مقاله کې د «بهرنیانو» اصطلاح د هغو اشخاصو لپاره کارول کیږي چې د آلمان تابعیت نه لري، یا یې تبعیت مالوم نه وي.

۲ په دې مقاله کې د «بهرنیانو» اصطلاح د هغو اشخاصو لپاره کارول کیږي چې د آلمان تابعیت نه لري، یا یې تبعیت مالوم نه وي.

خپرونکی: د IFO انسټیټیوټ، پاشینګېر سړک ۵، ۸۱۶۷۹ مېونشن
تليفون: (۰۸۹) ۹۲ ۲۴-۰، فکس: (۰۸۹) ۹۸ ۵۳ ۶۹، برېښنالیک ifo@ifo.de
چمتو کوونکي: انېت مارکوارت، ډاکټر کورنیلیا ګایسلر
د اېډيټ کمیټه: پروفیسور ډاکټر ډاکټر کلیمنس فوست، پروفیسور ډاکټر چانګ وون نام
ویش: د IFO انسټیټیوټ له خوا
د خپرېدو ډول: نامنظم
د بیا چاپ او خپرولو اجازه: یواځې د IFO انسټیټیوټ په اجازې سره
پر انټرنېټ: https://www.ifo.de

په اوسنيو ټاکنيزو مبارزو کې د کډوالۍ د محدودولو لپاره د امنيتي انديښنو استدلال يوه اساسي موضوع ده.

د بايرن ايالت وزير «مارکوس زودر» د CSU په غونډې کې ټينګار کوي چې: «د داخليامنيت د تامين لپاره بايدکډوالي محدوده شي.»

خو بايد وويل شي چې په احصايو کې د بهرنيو اتباعو ارقام ددې اثبات نشي کيدلای شي چې دجرايمو انګيزه يواځې په کډوالو يا بهرنيو اتباعو کې موجوده ده، او يا دې وويل شي چې  کډوالي جرمونه زياتوي.

## انځور ۱

### د آلمانانيانو او بهرنيانو ترمنځ د جرمونو کچه (۲۰۱۱–۲۰۲۳)



بهرنیان: د هرو ۱۰۰۰ بهرنیو وګړي له جملې، ۵۷ تنه پر جرمونو تورن بلل شوي.

آلمانیان: د هرو ۱۰۰۰ آلماني وګړي له جملې، یوازې ۱۹ تنه تورن بلل شوي.

### ولې د PKS په راپور کې دبهرنیو اتباعو کچه زیاته ده؟

لومړی ممکنه توضیح دا ده چې بهرنیان تر ډېره د هغو عامو دیموګرافیکي عواملو له امله ډېر مشکوک ګڼل کېږي چې له تابعیت سره تړاو نه لري، لکه عمر او جنسیت چې دا عوامل د جرم د خطر کچه زیاتوي (South او Messner ۲۰۰۰).

### انځور۲

### د ۲۰۱۸-۲۰۲۳ کالونو ترمنځ د داخلي او بهرنیو اتباعو ترمنځ د عمر سیمه‌ییز وېش څرګندوي

Abb. 2

**Kriminalitätsrisikofaktoren nach Nationalität***




*Abgebildet sind die Verteilungen des Altersdurchschnitts der deutschen bzw. ausländischen Einwohner (A) und die Verteilungen des Männeranteils nach Nationalität (B) auf Kreisebene. (C) stellt den linearen Zusammenhang zwischen der Tatverdächtigenrate von Deutschen und Tatverdächtigenrate von Ausländern dar (logarithmierte Werte). (D) zeigt den linearen Zusammenhang zwischen Tatverdächtigenrate von Deutschen und ausländischen Bewohner pro 1000 Einwohner auf Kreisebene (logarithmierte Werte). Der Standardfehler des geschätzten Steigungsparameters ist in Klammern angegeben.

Quelle: PKS; Statistisches Bundesamt; Statistische Ämter der Länder. © ifo Institut

دا انځورونه ښيي چې د آلمانیانو او بهرنیانو ترمنځ د عمر او جنسیت د وېش توپیرونه موجود دي، او بهرنیان زیاتره ځوانان او نارینه دي. همداراز، انځورونه ښيي چې هغه ولسوالۍ چې بهرني شکمن کسان پکې ډېر وي، د آلمانیانو د شکمنو کسانو کچه هم پکې لوړه ده

بهرنیان د آلمانانیانو په پرتله په اوسط ډول ۱۱ کاله ځوان دي.

د آلمانانیانو په پرتله په بهرنیانو کې د نارینه‌وو شمېر زیات دی.

دا دواړه فکتورونه د جرمونو چانس زیاتوي، خو ټول توپیر نه شي تشریح کولی.

دوهمه ممکنه توضیح دا ده چې بهرنیان زیاتره په هغو ولسوالیو تمرکز لري چې د جرمونو کچه پکې لوړه ده.

په دغسې سیمو کې ژوند اختیارول د هر اوسېدونکي په وړاندې د خطر امکان زیاتوي. موندنې څرګندوي چې هغه ولسوالۍ

چې د بهرنیانو د جرمونو کچه پکې لوړه ده، هلته د آلمانیانو ترمنځ هم د جرمونو کچه لوړه وي.

### انځور ۳: د بهرنیانو د فیصدۍ او په سیمه‌ییزه کچه د جرمونو ترمنځ اړیکه (۲۰۲۳)

Abb. 3

**Regionaler Zusammenhang zwischen Ausländeranteil und Kriminalitätsrate, 2023**[a]




[a] (A) stellt den linearen Fit zwischen Straftaten pro 1000 Einwohner und Ausländern pro 1000 Einwohner im Jahr 2023 auf Kreisebene dar (logarithmierte Werte). (B) zeigt dieselben Variablen nach linearer Bereinigung um den lokalen Anteil männlicher Einwohner, dem Altersschnitt der Bevölkerung, deutsche Tatverdächtige je 1000 deutsche Einwohner (logarithmierte Werte) und der Arbeitslosenquote. Beobachtungen sind nach Bevölkerungsgröße skaliert. Der robuste Standardfehler des geschätzten Steigungsparameters ist in Klammern angegeben. Straftat = Straftaten ohne Aufenthaltsverstöße.

Quelle: PKS; Statistisches Bundesamt; Statistische Ämter der Länder. © ifo Institut

انځور ښکاره کوي چې د بهرنیانو د فیصدۍ زیاتوالی ظاهراً د جرمونو له زیاتوالي سره تړاو لري، او د بهرنیانو د فیصدۍ او د جرم د کچې ترمنځ هیڅ مثبته اړیکه نه شته، بلکې ناسم منفي تمایل لیدل کېږي.

## پایله:

د A.۳ انځور د بهرنیو وګړو د ونډې او د هر اوسېدونکي پر سر د جرمونو ترمنځ اړیکه ښکاره کوي. دا ارزونه پرته له دې چې نور اغېزمن عوامل په پام کې ونیول شي ترسره شوې ده. په وقعیت کې په هغو ولسوالیو کې چې د بهرنیانو ونډه پکې لوړه ده، د جرمونو کچه هم پکې لوړه ده: که چیرې د بهرنیانو ونډه ۱٪ زیاته وي، نو د جرمونو کچه په اوسط ډول ۰.۴۱٪ لوړه ده. له دې داسې مالومیږي چې ګواکې بهرنیان زیات مجرم دي. خو (انځور۲) ښکاره کوي چې ددې اړیکې یوه برخه د آلمانیانو د لوړو جرمونو له امله ده، نه د بهرنیو اتباعو د زیاتوالي له امله. په همدې اساس (انځور۳) همدا اړیکه د نفوسو د منځیني عمر، د نارینه‌وو ونډې، سیمه‌ییزو جرمونو او د بې‌کارۍ کچې په څېر د سیمه‌ییزو توپیرونو په پام کې نیولو سره په پام کې نیول شوې ده. ددې انځور له مخې په ۲۰۲۳ کال کې، په هغو سیمو کې چې دیموګرافیکې ځانګړنې، د آلماني مشکوکو وګړو کچه او د بې‌کارۍ کچه یو ډول وه، نو د هر اوسېدونکي پر سر د بهرنیانو د ونډې لوړوالي د جرمونو په زیاتوالي هېڅ اغېز نه درلود.

د یوه ځانګړي تحلیل له مخې نږدې د جرمونو په کچه کې ۹۰٪ سیمه‌ییز توپیرونه د همدغو یادو شوو متغیرو په مرسته تشریح کېدای شي، چې له ډلې یې ۷۵٪ د ځانګړو سیمه‌ییزو عواملو له امله دي (۴۴٪ د آلماني مشکوکو کسانو د ونډې له امله، ۶٪ د بې‌کارۍ له امله، او ۲۵٪ د دواړو ګډ اغېز). سربېره پر دې، دیموګرافیکې ځانګړنې (منځنی عمر او د نارینه‌وو ونډه) ۸٪ تشریح کوي او د دیموګرافیکو او سیمه‌ییزو عواملو ګډ اغېز ۱۱٪ تشریح کوي.



لنډه کیسه

# د ماشومانو نړۍ

خوږو او ګلالیو ماشومانو!

دا ځل مو درته د «بني» په نوم د يوه اتل خرس کيسه را وړې ده. د داسې يو خرس چې ډېر لټونګر و او تل به يې غوښتل نوي ځايونه ولټوي، هغه يوه ورځ له يو داسې ځای سره مخ شوی وو چې تر دې مخکې يې هېڅکله نه وو ليدلی، نوره کيسه تاسو په خپله ولولۍ او وګورۍ چې دا اتل خرس له داسې ځنګه ځای سره مخ شوی وو.

دا چې د بني اصلی کيسه څه ده راځۍ چې په اړه يې دا نکل په خوند خوند ولولو.

## اتل خرس

يو وخت يو خرس و چې نوم يې بني و.

بني د يوه غره په لمن کې په يوه کوچني کلي کې ژوند کاوه.

هغه ډېر لټونګر خرس و او تل به يې غوښتل نوي ځايونه ولټوي.

يوه ورځ يې پرېکړه وکړه چې غره ته وخېژي، څو پوه شي چې د غره بلې غاړې ته څه شته.

کله چې هغه د غره سر ته ورسېد، نو داسې څه يې وليدل چې هېڅ يې تمه نه درلوده.

يو ډېر لوی جهيل، دومره لوی چې بني يې پای نه شو ليدلی.

هغه د جهيل له ښکلا څخه ډېر حيران شو او پرېکړه يې وکړه چې ښکته ولاړ شي او دا ځای وپلټي.

بني خپل ځينو ملګرو ته وويل چې ورسره لاړ شي، خو هغوی هر يو بوخت و.

نو بني پرېکړه وکړه چې يوازې ولاړ شي.

هغه خپل بکس چمتو کړ، خوراکي توکي يې واچول او سفر ته روان شو.

له څو ورځو مزل وروسته، بني جهيل ته ورسېد.

هغه د اوبو له پاکوالي او د شا له غرونو سره له ښکلي منظره ډېر خوند واخيست.

بني پرېکړه وکړه چې يو څه وخت به همدلته پاتې شي.

هغه د جهيل پر غاړه يو کوچنی کور جوړ کړ او سيمه يې لټول پيل کړه.

يوه ورځ، کله چې بني په جهيل کې کښتۍ چلوله، يو ټاپو يې وليد چې د جهيل په منځ کې و.

هغه پرېکړه وکړه چې ټاپو ته ولاړ شي څو معلومه کړي هلته څه دي.

په ټاپو کې يې داسې ژوي وليدل چې مخکې يې هېڅ نه وو ليدلي.

دا ژوي مهربانه او ښه راغلاست ويونکي وو، او بني پرېکړه وکړه چې له هغوی سره پاتې شي او يې وپېژني.

د ټاپو ژويو بني ته د خپلو ماجراوو کيسې وکړې؛ له جهيل، له خطرناکو مخلوقاتو، او له ستونزو.



بني پرېکړه وکړه چې له هغوی سره مرسته وکړي.

هغه يوه کښتۍ جوړه کړه، ماهي به يې نيول، او ژوي به يې له خطرناکو موجوداتو ساتل.

ورو ورو، بني د ټاپو لپاره يو اتل شو.

هغه له ژويو سره مرسته وکړه چې خوندي او خوشحاله ژوند وکړي.

جهيل يې خپل نوی کور وګرځاوه.

بني هېڅکله نه و فکر کړی چې له خپل کلي دومره لېرې ژوند کوي،

خو هغه خوشحاله و، راضي و، او له هغو ژوو سره يې ګډ ژوند پيل کړ چې په جهيل کې يې پېژندلي وو.